# اسلام او اقتصاد

مؤلف:دُکتور شیخ الحدیث
فقیرالله فائق حقاني

بسم الله الرحمن الرحیم

فهرست


مقدمه:......................................................................... 4

اسلام او اقتصاد............................................................... 7

د معیشت تعریف.............................................................. 9

(تفصیل) ........................................................................ 10

تفصیل ........................................................................... 12

تفصیل ........................................................................... 14

د انسان استقلال او غلامی ................................................... 20

ټکنالوژي د وخت ضرورت ده ................................................. 23

آدم(ع)تکویني پیغمبر وو........................................................ 25

تفصیل:.......................................................................... 28

د اقتصاد لارې او طریقي ..................................................... 31

په کسب کولو سره د انسان مسقبل روښانه کیږي .................................. 32

د انسان په خټه اوخمیر کي افضل شیان دي ........................................ 36

اجتماعي ژوند د دنیا اهم مقصد دي ........................................................ 38
هر یو کسب الله تعالی ته محبوب دي........................................................ 39
تفصیل:........................................................................................ 39
اسلام او تمدن.................................................................................. 41
تفصیل ........................................................................................ 42
*د تهذیب او تمدن لغوي او اصطلاحي معنی* ...................................................... 44
تفصیل:........................................................................................ 50
اسلامي ملکونه ولی پسمانده دي؟........................................................... 50
سوال: ........................................................................................ 52
د شریعت مقاصد پنځه دي: ................................................................. 53
حفظ النفس والعرض........................................................................ 55
حفظ العقل .................................................................................... 55
حفظ النسل.................................................................................... 56
حفظ الاموال.................................................................................. 57
تفصیل ........................................................................................ 59

اهم تفصل............................................................................... 61

تفصيل ....................................................................................... 61

د ځوانانو چتر او فلاح لټول.............................................................. 62

ټکنالوژي حتماً حاصلول پکار ده......................................................... 64

انسانيت د ځمکي ښکلا ده ................................................................ 68

تفصيل ....................................................................................... 70

د اسلامي ملک حاکمان..................................................................... 72

اجتماعي معاش.............................................................................. 74

نظام حکومت له کفر سره چليږي نه له ظلم سره. .................................... 74

د اسلام اقتصادي نظام..................................................................... 77

تفصيل:....................................................................................... 79

د اسلامي اقتصاد يا معيشت منبع او سرچينه......................................... 80

## مقدمه:

الحمد لاهله والصلواة على اهلها اما بعد

قوله تعالى اَلَمْ تَرَ اَنَّ الله اَنْزَلَ مِنَ السَّماءِ ماءً فَاَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُخْتَلِفاً اَلْوَانُهَا ومِنَ الجِبال جُدَدٌ بِيْضٌ وَ حُمْرٌ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغرَابِيِبٌ سوْدٌ:

فاطر ٢٧ آية

ترجمه : ايا تا نه دي ليدلى چي بيشكه الله(ج)تعالى بره نه اوبه نازلى كړى دي، بيا مونږ په دغو سره داسى ميوى راوښكلى دي چي دهغو رنګونه مختلف دي او په غرونو كي ځينى سپينى او سري لارى دي چي ددغو (لارو)رنګونه سره مختلف دي (اوځينى په دوى كي) تكي تورى دي

عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى خَلَقَ آدَمَ مِنْ قَبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيعِ الأَرْضِ، فَجَاءَ بَنُو آدَمَ عَلَى قَدْرِ الأَرْضِ، فَجَاءَ مِنْهُمُ الأَحْمَرُ وَالأَبْيَضُ وَالأَسْوَدُ وَبَيْنَ ذَلِكَ، وَالسَّهْلُ وَالحَزْنُ وَالخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ

(رواه أبو داود والترمذي)

ترجمه: له ابی موسی الاشعری څخه روایت دي چي (فرمایي ما له رسوالله(ص) څخه اوریدلی دي چي الله(ج) حضرت آدم(ع) له یو موټی خاوری څخه جوړکړو چي دغه موټی خاوره الله تعالی د ټولی ځمکي له مخ څخه راواخیستله نو بنی آدم د ځمکي د رنګ په شکل جوړ شو چي بعضی له دوی څخه سره دي او بعضی له دوی څخه سپین دي بعضی له دوی څخه غنم رنګ دي بعضی له دوی څخه نرم مزاجه بعضی له دوی څخه سخت مزاجه او غمګین طبیعت بعضی له دوی څخه شډل او بدرنګه دي بعضی له دوی څخه ښایسته (ښکلی) دي ۰

روسیه، او انګریزان سره رنګی دي ، ترکان او عرب سپین رنګی دي، افریقایان او بنګلادیشیان توررنګی دي، افغانان، پاکستان، هندیان، ایرانیان غنم رنګی دي وغیره....

نو لهذا ددغه حدیث شریف د فلسفی لاندي انسان ته جهان اصغر یا وړوکي دنیا ویلی شي ځکه چي کوم صفات په جهان اکبر یا ځمکه کي موجود دي (تفصیلا)

همدغه شان دغه ټول صفات په انسان کي موجود دي (اجمالاً)

د مثال په توګه ځمکه کي غرونه ، ځنګلونه ، باغونه، هموارې ، نفت، ګاز، خوږی اوبه، ترشی اوبه، زلزلی ، لوړي ژوری وغیره همداشان په انسان کي هم همدا څیزونه کلاً کلاً موجود دي.

له دي وجه څخه علماء او ځمکپوهان له انسان څخه په جهان اصغر تعبیر کوی

او د تصوف امامان له انسان څخه داسی تعبیر کوي چي (حقیقت انسان مشکوة معرفت رحمان) یعنی د انسان حقیقت د الله تعالی د پیژاندلو تاخچه ده.

نو له دي وجه څخه الله تعالی د جهان اکبر خلافت انسان ته وسپارلو او دا خبره یي د انسان په وجدان کي کینوله چي خپل ځان کي سوچ او فکر کوه او استخراج د معادنو دجهان اکبر څخه کوه ځکه چي ته (انسان) ددغه جهان اکبر نقشه یي نو د انسان دماغ تل په حرکت کي روان دی او هیڅکله په یوه ځای نه ودریږي او د تل لپاره تفکر فی الکائنات کول د انسان طبیعی وظیفه ده.

و من الله توفیق

اقتصاد  د قصد له کلمی څخه اخیستل شوی ده چي په یوه معامله کي د منځ لاریتوب اختیارولو په معنی ده

1. امام مراغب اصفهانی (552 م) فرمایلی دي چي:(القصد استقامة الطريق ومنه الاقتصاد)  قصد هنا(نیغه لار)
2. علامه ابن کثیر (متوفی 774هـ) په النهاية کي فرمایلی دي چي: (القصد من الامور المعتدلة الذی لا یمیل الا احد طرفی(الافراط  والتفريط)

ترجمه: قصد عبارت له هغو امورو څخه دي چي منځ لاری پکي وی چي نه پکي زیادت وی او نه هم نقصان

3. علامه الجوهری (اسماعیل ابن حماد الجوهری / متوفی 393هـ/1003ع) په الصحاح کي فرمایلی دي چي: قصد عبارت دي له هغی نقطی څخه چي نه پکي اسراف وی او نه پکي بُخل وی
4. ابن منظور افریقی(ابوالفضل جمال الدین محمد بن مکرم( متوفی 630هـ / 711 م)فرمایلی دي چي: (القصد فی معيشة ان لایسرف ولأیقتر ) په هر حال په هره زمانه کي ماهرینو د معاشیاتو او د اقصادیاتو د اقتصاد مختلف تعبیرونه کړي دی لیکن په اوسنی عصر او زمانه کي د اقتصادپوهانو  د اقتصاد داسی تعریف کړي ده چي: د

اقتصاد علم هغه علم ته ويل کيږی چي د پانګی د پيدايش او د تقسيم بحث ورڅخه کيږی

5. په المعجم الاقتصاد کي د اقتصاد تعريف داسی شوی دي چي:(هو علم يبحث فی کلٍ يتعلق باالثُرْوَةِ وَالَمَالِ وَالتَکَسُّبِ وَالتَمَلُکِ والانفاق)

ترجمه: علم الاقتصاد هغه علم ته ويل کيږی چي د مالداری، کسب کولو، مالک جوړيدلو،او خرچ کولو څخه بحث کوی.

6. ابوالحسن الماوردي (على ابن محمد ابن حبيب (ولادت364هـ/وفات450هـ)د اقتصاد داسی شرح کړي ده چي :(الاموال ضربان ظاهرة وباطنة فاالظاهرة ما لايمکن اخفائه کالزرع، والثمار، والمواشی . والباطنة ما أمکن خِفائه من الذهب والفضة وعروض التجارة

ترجمه: مالونه په دوه ډوله (قسمه) دي اول هغه مالونه چي ښکاره وی لکه: زراعت،باغونه،څاروی،مثلاً غوايان،اوښان،وزی،ميږی او داسی نور

او دويم قسم يا ډول يي هغه مالونه دي چي پټ دي (ښکاره نه دي) لکه:سره زر يا طلا،سپين زريا نقره يا مروجه نقود او د تجارت سامان(وسائل) او دغه اقتصاد

اصلاً خرچ او خوراک ته ویل کیږی لکن نن عصر کي ترينه عروج د معيشت مراد دي

### د معيشت تعريف

معيشت او معاش له عاش کلمی څخه اخيستل شوی ده چي  د خوراک څښاک او پوښاک په معنی ده

ابن منظور افريقی(ولادت 630 وفات 711) فرمايي چي: العيش الحيات ای  ما يعاش به

صاحب قاموس فرمايي (المعيشة اللتی تعيش بها من المطعم والمشرب او تکون به الحيات وما يعيش به)

ترجمه: د معيشت څخه مراد خوراک، څښاک او هغه زرائع غرض دي چي د انسان د ژوند دار اومدار ور پوری موقوف دي.

اقتصاديات، معاشيات، تمدن ټول الفاظ  مترادفه دي او مراد ترينه د انسان د ژوند اسباب او ترقی ده

امام راغب اصفهانی (متوفی 502هـ) د معيشت تعريف داسی کړيده: (العيش الحيات المختصة  به الحيوان

وهو اخص من الحيات لان الحيات تکون فی الحيوان وفی الباری تعالی وفی الملک ويشتق منه المعيشة لما يتعيش منه)

ترجمه:عيش هغه ژوند ته ويل کيږی چي ذی روح يا حيواناتو پوری خاص وی او حيات لفظ عام دي چي الله تعالی او ملائکو ته هم ثابت دي او معيشت کلمه له عاش کلمی څخه اخيستل شوی ده چي د ژوند کولو په معنی ده

(تفصيل)

په انسانی ژوند کي دری هغه شيان دي چي په بل ذی روح(زنده جان) کي نشته او دغه دری شيان د انسان د ژوند تيرلو لپاره په دنيا کي حياتی عنصر دي چي په لاندي ډول دي:

1. عقايد
2. عبادات
3. معاملات

1 ) د عقأيد اصول پنځه دي چي عبارت دي له:

1. ايمان باالله
2. ايمان باالملائکة
3. ايمان باالکتب السماوية
4. ايمان باالرُسل
5. ايمان باليوم الاخرة

2 ) د عباداتو اصول هم پنځه دي چي عبارت دي له:

1.شهادت ان لااله الا الله
2.اقام الصلاة
3.ايتاء الزکاة
4.صوم الرمضان
5.الحج

3 ) معاملات يعنی د ژوند تيرلو اسباب ځکه چي اسباب معدود او محصور دي او دانسان خواهشات غيرمحصور او معدود دي.

اول دوه قسمونه تصريح د شريعت ته ضرورت لری تر څو د دوی په معنا او مفهوم سړی پوه شی ځکه د دغوعلم د آسمان څخه زمکي ته د پيغمبر(صلی) په واسطه خبريدل او معمول ګرزيدل کيږی.

داسی اعمال بغير د عبارت النص څخه افهام او تفهيم ددوی مشکل دي

## فصل

او دريم قسم يعنی د معاملاتو علم چي ورته صرف اشارات او ايمأت ويلی شوی دي او نور يي دغه علم د انسان دماغو ته حواله کړي ده ترڅو انسان خپل

ضروريات، احتياجات، تسهيلات او تزئينات له کائناتو څخه استخراج او منکشف کړي او په دغو کائناتو کي د خدای ورکړي عقل په واسطه دفائن او خزائن  د زمکي له قوت څخه محل ايجاد ته را اوباسي. او دغه عمل ته علوم سا ینسیی ویل کیږي.

## په قران کريم کي د اقتصاد يا معاشياتو بيان:

زه غواړم چي هغه اشارات په قران کريم او حديث نبوی چي اجمالا د اقتصاد او معيشت لپاره ذکر کړي شوی دي د هغو آياتونو د لاندي لړ غوندی تفصيل ورکړم:

1. قوله تعالی (هو ٱلذي خلق لكم ما في ٱلۡأَرۡض جميعٗا ...الخ) البقره

ترجمه: هم دا هغه ذات دي چي ستاسو لپاره يي په زمکه کي ټول څه پيدا کړي دي

### تفصيل

زه له داسی کسانو سره مخاطب يم چي هغه د لوړو زده کړو محصلين يا شاګردان دي نه غواړم چي ډيرتفصيل ته پکي لاړ شم نو په دي وينا کی په مهمو موضوعاتو بحث کوم چي عبارت دي له:

1.جمادات
2.مائعات
3.حیوانات
4.نباتاة

په هر حال وچه، لمده، لوړه، ژوره بلکی ټول کائنات د انسان د نفع لپاره پیدا کړل شوی دي

نو انسان ته په دغو کائناتو کي نفوذ، سرایت او تفتیش کول شپه او ورځ لازمه ده چي دغه منابع په خپل کار کي راولي.

- قوله تعالی(سَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ وَالنُّجُومُ مُسَخَّرَاتٌ بِأَمْرِهِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ) النحل ۱۲اية

ترجمه : هغه تابع کړي ده دستاسو لپاره شپه، ورځ، لمر، سپوږمی، او ستوري د هغه په حکم سره مسخر(تابع) دي بیشکه په دغو کي خامخا ډیري نښی دي د هغو خلکو لپاره چي عقل څخه کار واخلی.

- قوله تعالی(وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥٓ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لايَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ)النحل ۱۳اية

ترجمه: (او تابع کړي دي) هغه څه چي تاسو لپاره يي په ځمکه کي پيدا کړي دي په داسی حال کي رنګونه يي مختلف بيشکه په دوی کي يقيناً لويه نښه ده د هغو خلکو لپاره چي نصيحت قبلوي.

- قوله تعالی( وَهُوَ الّذِي سَخَرَ اَلْبَحْرَ لِتَأكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيا وَتَسْتَخِرْجُون مِنْهُ حِلْيَةً تلبسونها وترى الفلكَ مواخر فيه ولتبتغوا من فضله ولعلكم تَشكرون

النحل ۱۴اية

ترجمه: دي هم هغه ذات دي چی سمندر يي مسخر(تابع) کړيده د دي لپاره چي له هغه څخه تازه غوښه وخوری او له هغه څخه ګاڼه(زيورات) راوباسی چي تاسی اغوندي او ته په دي کي بيړی وينی چي اوبه چيروونکي دي او د دي لپاره چي تاسو د هغه فضل(مهربانی) طلب کړي (وغواړی) او د دي لپاره چي تاسی شکر وباسی(النحل ۱۲اية)

تفصيل

الله تعالی په انسان کي دری قسمه قوتونه جمع (ايجاد) کړي دي (ايښی دي) چي د انسان په فطرت کي نغښتی دي چي عبارت دي له:

1.قوت عاقله
2.قوت شهويه
3.قوت غضبيه

انسان په دغه درى قوتونو سره له ټول ذى روحونه جلا دي ځکه چي ملائکو کي قوت عاقله شته او دغه نور دواړه پکي نشته او په حيواناتو کي قوت شهوانى

او قوت غضبى موجود دي خو ليکن له قوت عاقله څخه بى برخى دي له دغى وجه څخه چي انسان کي دغه درى قوتونه موجود دي نو اشرف المخلوقات وګرزيدلو او د کائنات ارضى خليفه جوړ کړاي شو او کل کائنات ورته الله تعالى مسخر او تابع کړل.

د قوت شهوانى وظيفه او منصب دا ده چي دا قوت انسان ته جلب المنفعت کوى يعنى هر هغه شى چي انسان ته د هغه په وجود کي سهولت خوشحالى او آسائش حاصليږي نو قوت شهوى د هغى د حصول لپاره انسان آماده کوى.

او د قوت غضبي وظيفه او منصب دا ده چي له انسان څخه دفع د مضرت کوى (هر هغه مضر شيان کوم چي د انسان ذات ،صفات ،حيثيت ،مال ،ننګ او ناموس ته خطر وى دغه قوت انسان ددي لپاره آماده کوي تر څو د خپل ځان دفاع وکړي)(مشاهده په دي ګواه ده)

دريم نمبر قوت عاقله ده دا په انسان كي ديو طاقت نوم ده چي د تسخير كائنات ،لمر،سپوږمی، او د مستقبل لپاره اعلی پلانونه جوړول د قوت عاقله وظيفه او منصب ده نو قوت عاقلي وظيفه تحقيق او تفكر په منافع او مضراتو كي تفكيک كول دي.

نو قرآن كريم فرقان حميد په دي خبره ډير زور اچوي چي بشريت يا انسانيت مهمل،تنبل او غافله نشي بلكه له دغه كائنات څخه د پوره فايدي واخلي.

5= قوله تعالى وَالْفُلْكِ الَّتِيْ تَجْرِيْ فِى الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ

(البقرة آية 164)

ترجمه: اوپه هغه بيړيو كي چي په سمندر كي هغه څه روان كړي وي چي خلكو ته نفع ورسوي الخ

نو فلک يا كشتی قوت عاقله پيدا وار دي (جوړ ده)او همدا رنګه د سمندر په مخ ګرزيدل ياپه شپو شپو سفر كول يا شرق او غرب سره تړل او صادرات او وارداتو په واسطه د كشتی سره تړل د قوت عاقلي نتيجه ده او نن عصري

وسائل لکه الوتکه، موټر او داسی نور د معاشري هر یوه اسانتیاوی د عقل محصول دي.

د انسان ارتقاء په علم سره دي

6 = قوله تعالی وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا

( الاسراء آية 170 )

ترجمه : او یقیناً مونږ د آدم اولادي ته ډیر عزت ورکړي ده په سورلیو باندي په وچه او په سمندر کي سواره کړي دي او مونږ دوی ته روزی ورکړیده له پاکو څیزونوڅخه او مونږ دوی ته فضیلت ورکړیده په ډیرو مخلوقاتو باندی غوره فضیلت.

له دغو پورته آیاتونو څخه دا معلومه شوه چي انسان اشرف المخلوقات دي ځکه چي انسان څخه بغیر نور ټول مخلوقات ده ته مسخر او تابع کړاي شوی دي نو انسان د ټولو مخلوقاتو آمر او خلیفه شو!

7 = قوله تعالی كُلًّا نُمِدُّ هَٰؤُلَاءِ وَهَٰؤُلَاءِ مِنْ عَطَاءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ مَحْظُورً (الاسراء آية 20)

ترجمه مونږ د دې او د هغه چا مرسته کوو چې د ستاسو د رب له نعمتونو څخه دي او ستاسو د رب فضل محدود نه دي.

په دغه آیات کریمه کي الله تعالی د دنیوي علم یعني ساینس، تکنالوژی یعني پیشرفته وسائل او ورسره تسخیر (تابع کول) په بر او بحر کي د کافراو مسلمان ترمنځ فرق او توپیر کړي نه دي که هر څوک داقتصاد او د دنیوی علم طلب کوي هغه به الله تعالی منزل مقصود ته رسوي دنیوی علم کی هر هغه انسان کامیاب دي چه طلب او کسب ددغه علم کوي

8 =قوله تعالی أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاءَ صَبًّا ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا فَأَنْبَتْنَا فِيهَا حَبًّا وَعِنَبًا وَقَضْبًا وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا وَحَدَائِقَ غُلْبًا وَفَاكِهَةً وَأَبًّا مَتَاعًا لَكُمْ وَلِأَنْعَام (عبس اية 32)

ترجمه: بیشکه مونږ اوبه په یو ځاځکي کې واچولې ، بیا موږ ځمکه ټوټه ټوټه کړه ، او مونږ پدې کې دانی ، انګور ، ترکاریانی ، زیتون ، خرما ونې اونور باغونه ، میوې ستاسو لپاره او ستاسودغواګانو لپاره بوس د ملکیت په توګه وده وکړه.

دا خبره مسلمه عندالکل ده چي اوبه د یوملک لپاره یوحیاتی عنصر ده لکه چي الله تعالی فرمایي

قوله تعالی: وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ (الأنبياء – الآية 30)

ترجمه: او مونږ د اوبو څخه هر شی زنده جان جوړ کړي دی او مونږ چي هر څه وینو، هغه هر څه الله تعالی د اوبو په موجودیت کی جوړ کړي دي.

دغه رنګه افغانستان یو آزاد خود مختار ملک ده هر قسم منابع لري او بلخصوص له اوبو څخه غنی ملک دي په تیرو وختونوکي د افغانستان پخواني ذمامداران ذهنی غلامان او د عیش او عشرت په نشه مست حکمرانان وول که لږ خپل تاریخ ته ځیر شو جاپان او افغانستان په یوه وخت کي له انګلستان څخه ازادي اخیستي ده خو بیا هم جاپان مریخ سره خبری کوی او افغانستان د ټول ملک په سطح خاصه طرقي نه لری حتی تر دی پوری چي د ګنډلو د ستني یوه فابریکه هم نلري

دا ځکه چي زمونږ د افغانستان غلامو حاکمانو تل د اغیارو څخه الهام اخیستلو تاسو ته معلومه شوه چي کله د افغانستان اصلی بچیان د افغانستان په خاوره مسلط شول په ډیر جرئت مندانه فیصلو باندي هیڅ یو نه شرقي

نه غربي ګاونډي ته يی سر ټيټ نکړلو بلکه غاښ ماتونکي جوابونه د قران حکيم او د سنت نبوي له مخی ورکړل.

د قران کريم په دغه آياتونو کي چي کومي ميوي دانعام په طور سره ذکر شوي دي دغه ټولي ميوي او ورسره نوري ډيري ميوي په ګران افغانستان کي په زياته پيمانه سره موجود دي.

### د انسان استقلال او غلامی

وعن عبدالله ابن عباس(رض) قال کنت خلف رسول الله يوماً فقال ياغلامُ اِنّی اُعَلِمُکَ کلماتٍ، اِحْفَظِ الله يحفظک اِحْفَظِ الله تَجِدْهُ تُجَاهَکَ اذا سَئَلْتَ فاسئل الله واذا استعنت فاستعن بالله، واعلم ان الامة لو اِجْتَمَعَتْ علی ان ينفعوک بشيٍ لا ينفعوک اِلا بشيٍ قد کتبهُ الله لَکَ، و لو اجتمعو علی اَن يَضُرُوکَ بِشيٍ لا يضروک اِلا بشيٍ قد کتبه الله عليکَ رُفِعَتِ الْاَقْلَامُ وَ جَفَّتِ الصُحُفُ (رواه الترمذي)

ترجمه: جناب ابن عباس(رض) زه له رسول الله(ص) سره شاته يوه ورځ روان ووم ماته يي وفرمايل چي زه يو څو کلمات درته ښايم هغه يادي کړه (او عمل پری وکړه ) کله چي دي يادي کړي د هغوی فايده به درته معلومه شي.

کله چي سوال کوي نوخاص د الله تعالی څخه یي کوه او کله چي کمک غواړي خاص الله تعالی څخه یي غواړه که چیري دا ټول خلک را ټول شی او وغواړي چي تاته نفع او عزت درکړي د الله تعالی له اجازي څخه به پرته ونشي کولای او هغه چي په تقدیر کي درته لیکل شوي دي له هغه به زیاده نفع او عزت در نه شي کړي او که دا ټول امت راټول شي او وغواړي چي ستا بي عزتي وکړي او یا هم تکلیف درکړي صرف هماغه به درته ورسیږي چي په ازل کي درته لیکل یا مقدر شوي وي نور زیاتوالی او کموالی نشي پکي راوستلای،قلم نور ستاله تقدیر اوچت دي او سیاهی یي خلاصه شوی معنا دا دي چه هیڅ تفسیر او تبدیل په کي نه کیږی .

وَاِعلَمْ اَنْ النَصْر مع الصَبْرِ وَاِنّ الفرج مع الكُرْبِ

ترجمه: پوهه شه چي مدد راتلل پس له صبرڅخه وي، او خوشحالي پس له غم څخه وي .

وَاِنّ مَعَ الْعُسْرِ يُسراً

ترجمه: او اساني پس له تنګ دستی څخه وي.

د اسلام مزاج د حریت، آزادي او بردباري ده او اسلام هیڅ کله نه غواړي چي په یوه ځطه کي دي وي او هلته دی بل مذهب یا عقیده هم رائجه وي دا هیڅکله نشي

کيدلئ چي د اسلام سره بل معادل مذهب رائج شي ځکه چي حديث مبارک دي چي

(الاسلام يعلوا ولا يعلی عليه) ترجمه: اسلام په خپله اوچت دي(په هر لحاظ سره)په اسلام بل مذهب او عقيده نشي اوچت کيدلای،

نو کوم خلک چي د ايمان په وسله سمبال وي هغه د تل لپاره ازاد او مستقل ژوند کوي نو ځکه د امارت اسلامي ذمامداران بغير له الله تعالی نه بل چاته سر نه ښکته کوي د ذلت او د غلامئ ژوند نه تيروی، او ان شاءالله تعالی هغه ورځ ليري نه ده چي د امارت اسلامي په قيادت کي دغه خړ پړ افغانستان د سيا لانو سره سيال او د دغه غربت دا تريخ وخت به په يو بډايه افغانستان بدل شي، و ما ذلک علی الله بعزيز دا يو سرګنده حقيقت ده چي بغير د جد جهد او د خپلی ستړيا څخه بغير مونږ د يو ودان او آباد افغانستان ليدونکي شو او نه کيداي شي .

قوله تعالی: وَاَنَ ليس لِلْانْسَانِ اِلّا مَاسَعی (سورة النجم)

ترجمه: نشته د انسان لپاره مګر هغه څه چي کوشش يي کړي ده

قوله تعالی: وَاَخَرُونَ يَضْرِبُوْنَ فِیْ الْاَرضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللهِ (سورة مزمل۲۰)

ترجمه: او نور به په ځمکه کي سفر کوي او د الله تعالی په فضل سره به تجارت او روزي لټوي مراد ترینه روزی ده او حق حلال رزق ده (الخ)!

## ټکنالوژي د وخت ضرورت ده

د یو پرمختللي او سوکاله افغانستان به مونږ هلته شاهدان او مالکان جوړ شو چي کله زمونږ وطن د ساینسي او د پیش رفته وسائلو یعني ټکنالوژۍ څخه په پوره توګه سره برخمن شي او مونږ او تاسي د دي شاهدان یو چي کوم ملک د ساینس او ټکنالوژۍ څخه برخمن دي هغه په هر چا حکومت کوي.

نو مونږ ته هم پکار دي چي یو خود مختاره ملک ولرو نو د ټکنالوژۍ او عصري وسائلو څخه بغیر په ننۍ زمانه کي د هیچ چا جواب نشو ویلی ځکه چي فقها فرمایي:المسائل بالوسائل

یعني د ملک مشکلات حل کول په وسائلو پوري اړه لري

قال رسول الله(ص) ( اِنّ اَلله یُحِبُ اِذَا عَمِلَ اَحَدُکُمْ عملاً ان یَتْقِنُهُ)

ترجمه: الله تعالی ته محبوب دي د هرهغه چا عمل چي کوم عمل یا کار کوي نوهغه مضبوط اومحکم کوي.

په دي حدیث شریف کي دعمل او کار هیڅ تفاوت نشته یعني که سوک کارخانه یا فابریکه جوړوي یا د انجنیری علم یا طب یا دیني علوم یا صنعت او داسي نور... که هر کار کوی الله تعالی ته هغه محبوب دي چي خپل دغه علم په پوره او کامله طریقه زده کړي.

وعن علي کرم الله وجهه قال قال رسوالله(ص) اِعْمَلْ لِدُنَیَاکَ کَاَنّکَ تَعِیشُ اَبَدًا واِعْمَلِ للاخرة کانک تموت غداً

ترجمه: دنیا کي چي کوم کار کوي دومره محکم یي کوه چي لکه همیشه ژوندئ یي او کوم چي اخرت ته کوي داسي فکر کوه چي سبا به مړ کیږی نو د خیر کار کي عجله کوه.

نو د اقتصاد او معیشت په شعبه کي باید په ګران افغانستان کي داسي فابریکي، فاکولتي، پوهنتونونه زراعت اوصنعت ایجاد کړو چي د کمییت سره سره د اعلی کیفیت څخه برخمن وي لله الحمد د ګران افغانستان په خیټه کي داسي خزاني موجودي دي چي صحي او مسلکي طریقه سره استخراج شی نو د نسلاً بعد نسلٍ لپاره کفایت نه بلکي نور ملکونه به راسره سیراب شي.

انسان په خپل پرمختګ سره مریخ ته رسیږي

قال رسول الله(ص) التمسوا الرزق فی خبایای الارض
(اخرجه الترمذی)

ترجمه: یعني تاسي خپل رزق د ځمکي په تل کي ولټوئ.

ددغه حدیث شریف د تشریح په لړ کي داسي ویلی شم چي ځومره قیمتي اشیاء دي هغه په ځمکه کي دننه پټ دي.

ځکه چي په آخره زمانه کي به الله تعالی ټولي خزاني او دفائن اشیاء چي پټ دي د ځمکي سرته راوباسي.

قوله تعالی: (وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَها) یعني ځمکه به ټولي خزاني د ځمکي سرته راخطا کړي.

په دي دنیا کي چي هر کله کوم پیغمبر پښه ایښي ده نو ددین د نشر او اشاعت سره سره یي د اقتصادي ژوند لاری او چاري هم سنجه ولي او د دنیا د بقا لپاره یي اُمت ته د تمدن او اقتصاد لاري اوګودري په نښه کړي دي.

آدم(ع)تکویني پیغمبر وو

1 = اول پیغمبر دنیا ته حضرت آدم(ع) راغئ نو اول دنیا کي تعمیر د بیت الله شریف ایجاد کړو او ورسره تکویني

پیغمبر و او د اقتصاد ټولي ضروري لارى چاري يي خپل اولاد او امت وروښودلي.

نو خپله حضرت آدم(ع) د زراعت کسب او له زراعت سره تړلي كارونه لکه: قولبه، اوبوخور او داسی نور او حضرت بي بي حوا به ورسره د همکاري په صفت کار کولو.

2 = جناب حضرت ادريس(ع) د منصب نبوت سره سره خياطي يعني جامي گنډل معيشت وه د حضرت ادريس(ع) نه مخکي به خلکو د حيواناتو څرمنۍ او پوستکي استعمالولوو.

3 = د حضرت نوح(ع) له نبوت سره سره د معيشت کسب نجاري او شپني كول وه او خپله حلاله روزى يي گټله.

4 = د حضرت جناب صالح(ع) او حضرت شعيب(ع) د فرض منصبي سره سره د تجارت کسب هم کولو.

5 = د حضرت موسی(ع) د نبوت سره سره د شپنۍ وظيفه هم کوله.

6 = د جناب حضرت داود(ع) د فرض منصبي سره سره آهنگری يا زغري جوړلو کسب کولو.

7 = د جناب سليمان(ع) د فرض منصبي سره سره تېتارى كول يعنى ديګونو جوړلو كسب كولو، او پوزى او پچى يي هم جوړولو.

8 = د جناب حضرت عيسى(ع) اود حضرت ذكريا(ع) د فرض منصبي سره سره نجاري كول وظيفه وه.

9 = د جناب حضرت محمد(ص) اول وخت كي تجارت كول او وروسته بيا شپني وظيفه كوله.

قوله تعالى: أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ (الانعام آية ٩٠)

ترجمه: بېشكه دوي هغه كسان دي چې د الله تعالى ورته هدايت كړى او د دوى په هدايت سره هدايت كوى.

وعن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبيِّ ﷺ قال: "ما بَعَثَ اللهُ نبياً إلا رَعَى الغَنَمَ"، فقالَ أصحابُهُ: وأنتَ؟، قال: "نعم، كُنتُ أرعَاها على قَرَارِيطَ لأهلِ مكةَ" (رواه البخارى)

ترجمه: داسي پيغمبر نه دي تير شوي چي هغوي شپني نه وي كړي نو صحابوو پوښتنه وكړه چي آيا تاسو هم شپني كړي ده ؟ نو جناب رسول الله (ص) وفرمايل چه د مكي د خلكو شپني ماهم يوڅو قيرطونو كړيده (يعني يو(1) درهم دولس (12) قراط كيږي)!

تفصيل:

د الله تعالی یو لوي او غټ حکمت دادي چي میږي او اوزي د یو مستقل اُمت په شان دي نو په رمه کي مختلف النوع میږي او پسونه وي بعضی قوي او بعضی ضعیف بعضی ځوانان بعضي بوډاګان وي که شپون د هر یوه څاروی په خپله درجه کي لحاظ و نکړي نو د میږو دغه رمه به ورځ په ورځ کمیږي او بالاخره ختمیږی به.

نو لهذا شپون ته پکار ده چي د ټولي رمي خیال وساتي نو دغه شیان چي اُمت کي مختلف النوع دي او مختلف الفکر انسانان موجود وي نو دخپل وخت پیغمبر دغه تجربه اول له دي څخه اخلي او په انسانانو یي هم تطبیق کوي نوځکه هر پیغمبر اول بنسټ او تجربه له میږو انسانانو ته نقل کوي.

## اعلی معیشت خپل دلاس کسب ده

قال رسول الله(ص) مَا اَکَلَ اَحَدٌ قَطُّ خَیْراً مِنْ اَن یَاکُل مِنْ عَمَلِ یَده وان النَبی الله داود کان یأکل من عمل یده (البخاري)

ترجمه: د هیچا خوراک له هغه سړي څخه بهتر نه دي کوم طعام او خوراک چي انسان په خپل لاس وګټي او

حضرت داود پیغمبر به د خپل لاس څخه خرچ او خوراک کولو.

قال رسول الله(ص) لِأَن یَحتَطِبَ اَحَدُکُم حُزْمةٌ على ظَهْره خَیْرٌلَهُ مِنْ اَن یَسْأَلُ اَحَداً فَیُعْطِیه اَو لمنعة (البخاري)

ترجمه: چي په خپله شا(ملا) باندي خس او د خاشاکو ګیډئ راوړل او په بازار کي خرڅول (د یو انسان لپاره ډیره غوره او بهتر ده) له سوال کولو د مخلوق څخه چي ایا څوک به کوم څیز ورکړي او که نه.

قال علي کرم الله وجهه لَا تُکثرُ الحَوائِجْ على اَخِیکَ فَاِنْ العِجْلَ اذا اَفْرَطَ فِى مَـصِّ تُدِي اُمُه نَـطْحَـتُـهُ.

ترجمه: یعني د خپل ورور یا خپلوانو څخه ډیر سوالونه مه کوه ځکه چي کوم غوسي چي د خپلي مور تیان (سینه) ډیر روي اخر په لته (لغته)وهل کیږي.

نو خپل حوائج اواقتصاد هغه که فردي وي یا اجتماعي وي نو باید چي هر انسان د دی لپاره حرکت وکړي او خپله معاشره په خپل لاس ګل او ګلذار کړي

قال رسول الله (ص) اِنَّ مِنَ الذُنُوبِ ذُنُوباً لا تَکْفِرْهَا الصَلاةُ والصِّیامَ، ولاالحج و العمرة قالو فما یکفرها یا رسول الله قال الهموم فى الطلب المعیشة

ترجمه:یقینا بعضی په گناهونو کی داسی گناهونه شته چی نه په لمانځه او نه په روژه او نه په حج او عمره ختمیږي او محو کیږي نو صحابه وو پوښتنه وکړه یا رسول الله(ص) نو هغه گناهونه بیا په کوم څیز ختمږي رسول الله(ص) وفرمایل هغه ګناهونه په دي ختمیږي چي انسان مسلمان د خپل حلال رزق په تلاش کي سرګردان ګرځي تر څو خپل اهل او عیال ته حلال رزق پیدا کړي.

قوله تعالی: وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَاءً لِلسَّائِلِينَ (حم سجده)

ترجمه : او دغه(الله تعالی)په ځمکه کي ددي له پاسه غرونه کیښودل او په هغي کي یي(ځمکه)کي برکت واچوه او په هغي کي یي(ځمکه)کي ددي د اوسیدونکو روزي مقدره(په اندازه)کړه، په څلورو ورځو کي په داسي حال کي چي د یو پښتني کوونکو لپاره برابر وي.

قوله تعالی وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ ۗ قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ

( الاعراف اية ١٠ )

ترجمه: یقینا مونږ تاسو ته په ځمکه کې قدرت درکړي دي او د تاسو لپاره په هغي دژوند کولو اسباب پیداکړي دي تاسو بیخی ډیر لږ شکر اوباسی

## د اقتصاد لاری او طریقي

لکه څرنګه چي د اقتصاد طریقي اسباب کارخاني، زراعت، او صنعت دي بعینه همدا رنګه د اقتصاد په طریقه کي د لاس مزدوري او زحمت ایستل او د خپل ځان او وجود څخه خوله ایستل او خپل جد او جهد کول که هغه د جواریحو استعمالول وي او که د ذهن او دماغ او عقل مزدوري وي ډیر لوی لاس او رول لري همدارنګه لکه څرنګه چي ظاهری اموال قیمتي او محترم دی همدارنګه د انسان نقل حرکت، او مشوره خریطه او نقشه هم قیمتي ده.

د انسان د ترقی او تمدن راز حمل او نقل پوری موقوفه ده د مثال په طور چه یو انسان په خپله سرمایه فابریکه او یا هم ترانسپورتی شرکت نصب او خلاص کړي نو دغه کارونه خپل مسلکي افرادو ته ضرورت لری ورنه بیا منجمد وي ځکه چي په یو تن یا یو شخص باندي د معیشت نظام چلیدل ناممکن دي.

قوله تعالی وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَىٰ ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَىٰ (النجم)

ژباړه: دا چې انسان لپاره نشته مګر هغه څه چې ده يي کوشش کړي دي، او دا چي بيشکه لپاره د ده کوشش به عنقريب ووښول شي، او بيا به ده ته بدله ورکړي شي ديره پوره بدله (النجم)

اسلام د تل لپاره له ګدايي څخه منع کړيده

په يوموقع حضرت جناب عمر (رض) غرباء صحابه وو ته تقرير وکړو او ويي فرمايل:

يا مشعر الْفُقَرَاءِ اِرْفَعُوا رُؤُسَكُم فَقَدْ اَلْتَضِح الطَرِيقَ فَاسْتَبِقُواالخَيْرَاتْ وَلاتَكُونُوا عيلاً على المُسْلِمِينْ. (النجم)

ترجمه: ای د غريبانو ډلي احساس کوئ ، خپل سرونه پورته کړئ ، ځکه چې د سړک روښانه کول روښانه شوی ، او د خير کارونو کي وړاندي والی کول او په مسلمانانو دروند پيټی (بوج) مه اوسئ.

ځکه چي کوم انسان په خپله ګټه وټه نه کوی نو په ټوله معاشره کي ورته دروند نظر نه کيږي.

روى ابن عباس(رض) فقال كان اهل اليمن يَحُجُونَ، وَلَا يَتَزَوَّدُونَ، وَ يَقولون نحن المتوكِلُونَ، فاذا قَدِمُو مكةَ سألو الناس، فاانزل الله تعالى وتزودو فاِنّ خير ذاد التقوي البقرة

ترجمه:ابن عباس رض فرمايي چي د يمن خلك به حج كولو ته بغير له خرچ او خوراک څخه مكي مكرمي ته راتلل اوكه به چا ورته وويل د خپل ځان لپاره خرچ او خوراک واخلئ، نو ويل به يي چي مونږ په الله تعالی توكل او بروسه كوو او هغه(الله تعالى) به يي حتماً راته راكوي خوچي حج ته راتلل نو بيا به يي له خلكو سوالونه او ګداي ګرى كوله نو الله تعالي د دوي دغه عمل وغانده او ورته ويي فرمايل (تَزَودو) يعني له خپل ځان سره توښه اخلي دا د تقوي او اسلام منافى عمل نه ده بهترينه توښه هغه ده چي له خلكو څخه سوال كول پريږدي او خپل حيثيت وساتئ (البخاري)

فقد ذكر الحافظ ابن رجب فى جامع العلوم والحكم عن معاوية ابن قُرّة اَنّ عمرابن الخطاب لَقِيَ ناسا مناهل اليمن فقال من اَنتُم؟

قالو نحن المتوكلون فقال بل انتم المتأكلون، انما المتوكلُ الذى يلقى حبةً فى الارض ويتوكل على الله(ج)

ترجمه:عمر ابن خطاب(رض) یوه ډله خلک د یمن په مسجد نبوي کی ناست بغیر د لمانځه څخه ولیدل له هغوی څخه یي پوښتنه وکړه تاسي دي مسجد کي بغیر د وخت د لمانځه څه کوی؟ هغوی وویل: چی زمونږ په الله تعالی پوره بروسه او اعتماد دي چی هغه به مونږ ته خرڅ او خوراک تیار راکوي نو حضرت عمر ورته وفرمایل چي تاسو متوکلین نه یاستئ بلکه متأکلین یعني مفت خواره یاستي او د بل کاسوته مو سترګي نیولي دي، اوتاریخ لیکلی چي فوراً یي له جماعت څخه وشړل او ورته ویی ویل چي خپل رزق پسي تګ وکړي

بیا جناب عمر فاروق وفرمایل: لا یَقْعُدَنَّ اَحَدُکُم عن طَلَبِ الرِزْقِ وَیَقُولَ اللّهم اِرزقْنِی وَقَدْ عَلِمْتُم اَن السَمَاءَ لَا تُمْطِر ذَهَبَا وَلَا فِضْةً الخ.

ترجمه: هیڅوک د له خپلی روزي ګټلو څخه غافله او سست نه کیني چي صرف په خوله دا دعا کوي چي یا الله تعالی ماته رزق راکړي تاسوباید په دي پوه شي چي اسمان څخه سره زر اوسپین زر نه راوریږي بلکه محنت او مزدوري د ژوند ډیر مهم عنصر دي.

د الله تعالی په دربارکي خپله حلاله مزدوری د جهاد فی سبیل الله سره برابره ده همدغه یو مملکت یا ملک چي د

هغه مشران او زمامداران يي د خپل رعيت لپاره اسباب د معيشت او اقتصاد برابروي داسي ده لکه چي په سنګر د جهاد کي مصروف وي.

و عن ابي هريرة (رض) بينا نحنُ مع رسولِ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- إذ طلع شابٌ من الثَّنيَّةِ، فلما رئيناهُ رَميْناه بأبصَارِنا، فقلنا: لو أنَّ هذا الشابُ جَعل شبابَه ونشاطَه وقُوَّتَه في سبيلِ اللهِ! فَسَمِعَ رسولُ اللهِ -ﷺ- مقالتَنا، فقال: وما سبيلُ اللهِ إلا قُتِلَ؟! مَن سعى على والدَيْهِ ففي سبيلِ اللهِ، ومَن سعى على عيالِه ففي سبيلِ اللهِ، ومَن سعى على نفسهِ؛ لِيَعُفَّها فهو في سبيلِ اللهِ، ومَن سعى مُكَاثِرًا ففي سبيلِ الشيطان (اخرجه احمد و البيهقى)

ترجمه:له ابو هريرة(رض)څخه روايت دي چي موږ له رسول الله سره ناست وو، چې يو ښکلی او قوي ځوان له کنډو څخه راښکاره شو او کله چې زموږ په هغه سترګي ولګيدي، موږ په خپل منځ کي سره وويل کاشکي دغه ځواني د الله تعالى په لار کي او جهاد کي مصرف شوي واي دا خبره له مونږ څخه رسول الله واوريدله، نو هغه وفرمايل ايا د الله تعالى لار صرف جهاد کول دي فقط (نه) څوک چي د مور او پلار خدمت کوي دا هم جهاد دي او څوک چي خپل اهل عيال ته رزق ګټي او د خپل ځان عفت(پاک لمني ساتي) چي د سوال او ګداګرۍ

څخه بچ شي دا هم د الله تعالی په لار کي ده او څوک مال د دي لپاره ګتي چي نام او نشان یی لوړ او خان جوړ شي او تکبر کوي دا د شیطان لاره ده.

و عن ابی سعید الخدری(رض)عن النبي ﷺ، قال: التاجر الصدوق الأمین مع النبیین، والصدیقین، والشهداء.

ترجمه: د صادق تجار حشر به د قیامت په ورځ له پیغمبرانو سره او صادقانو اونیکانو سره او شهداء سره کیږی نو وجه یي همدا ده چي امین تجار د خپل ملک او ملت د اقتصاد اومعیشت کي شپه اوورځ نه ستړي کیدوتکي منډي تړړي وهي او الله تعالی به یي په همدغه زحمت تیرولو دغه مرتبه وکړي.

## د انسان په خټه اوخمیر کي افضل شی تعاون دي

عَنِ ابْنِ عُمَرَ: " أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَحَبُّ النَّاسِ إِلَى اللَّهِ أَنْفَعَهُمْ لِلنَّاسِ

ترجمه:له ابن عمر څخه روایت دي چي یو سړي رسول الله (ص) ته راغی او ور څخه ویي پوښتل: چي بهترین انسان څوک دي چي الله تعالی ورسره مینه کوي؟ نو رسول الله(ص) ورته وفرمایل هر هغه انسان چي د الله

تعالی مخلوق ته خدمتونه او سهولتونه برابره وي هغه شخص د الله تعالی ډیر خوښ دي.

بلکه په دغه ربع مسکون (ځمکه) کي چي ځومره ذی روح موجودات اوحیوانات دي له هغوسره تعاون اوکمک کول د الله تعالی په نزد ډیر ثواب او د خیر کار دي.

ځکه چي رسول الله(ص) (فرمایلي دي: وَ فِي كُّلِ ذاتِ كَبَدٍ رَطْبَةٍ اَجرٌ) یعنی هر جګر لرونکي ذي روح سره تعاون کول او هغه ته نفع رسول د اجر څخه خالی ندي.

له دي وجه جناب عمرابن عبدالعزیز(رح) خپلو(والیانو) د وخت ته وفرمایل:

اُنثروالقُّمح على الرؤس الجبالِ لِئَلَا يُقَالُ جَاعَ الطَّيْرُ فِى بِلَادِ المسلمِين.

ترجمه:ای حاکمانو د غرونو په سرونو باندي غنم او داني لپاره د خوراک د مرغانو او خزنده ګانو تویي او وشیندئ ددي لپاره چي څوک ونه وایي چي په اسلامي حکومت کي مرغان وږي پاتي شوي هسي نه چي د کفارو ملکونوته د اسلامي حکومت مرغان د لوږي له وجه کډه ونکړي .

ځکه چي د ملک په زمامدارانو د ټول رعیت او مُسلم ثابت حقونه دي اودهغوی ورکول اوسپارل په دوي قرض دي

## اجتماعي ژوند د دنیا اهم مقصد دي

دین مبین اسلام د انسان نشوه، نما او ترقۍ ته ډیر اهمیت ورکوي او د دغه مقصد لپاره دا خبره ډیره مهمه او ضروری ده چي په اجتماعي نظام اومعاشره کي یوه فرد او شخص لره حُسن اواختیار په اقتصادي او معیشت کي ډیري زیاتي مواقع په لاس ورکړي دي چي بل سره احسان کول او همداسي نور اخلاقي فضایل په عمل کي راتلل ورته اسان شي له دي وجه نه دین مبین اسلام په اقتصادي او معایشي ژوندکي عدل او انصاف قایمول صرف په وضعی قوانینو انحصار نه لري بلکه په دغه معامله کي د اسلام مبارک دین چي زیاد اهمیت ورکوی هغه عبارت دي له:

اسلام د عباداتو تعلیم او د اخلاقو تربیت په ذریعی سره د انسان داخلی اصلاح وکړای شي او د انسان ذوق بدل کړای شي او همدارنګه د هغه د سوچ او فکر

اندازه بيله کړای شي او په هغه کي يو مضبوط او مستحکم اخلاقی حسن پيدا کړي شي چي د هغه په واسطه هغه خپل عدل او انصاف ميزان د خپل ضمير په واسطه پيدا او د تل لپاره قائم کړي.

قوله تعالى: أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ

ايا ستا درب رحمت دوی ويشي او مونږ د دوی په مينځ کې په دې دنيا کې د دوی ژوند په مينځ کې ويشلی دي او مونږ په دوی کې ځينې له يو بل څخه پورته يعني (اوچت) کړي دي، د دي لپاره چې يو بل څخه کار واخلي او ستاسو د خدای رحمت له هغه څه څخه غوره دي چې دوی يې راټولوی.

## هر يو کسب الله تعالى ته محبوب دي

### تفصيل:

انسان چي اشرف المخلوقات ده نو لهذا الله تعالى په خپل قدرت کامله او حکت بالغه سره زمونږ شا او خوا ته يو عريض او وسيع کائنات د جهان پيدا کړي دی چي په دي کي هوا، فضاء، سمندرونه او مختلف اشياء څخه

لکه:غرونه،دشتي،باغونه،وچي،او لمدو څخه يي مالامال او ډک کړي دی.

اوله دغه کائنات څخه الله تعالی تمام ذي روحو مخلوقاتو ته د رزق اوروزي انتظام او اهتمام کړی ده.

او خاص کر حضرت انسان ته چي الله تعالی په احسن تقويم شکل کي دي دنيا ته معرض وجود ته راغلی ده نو دغه انسان يي د بعضي وسائلو قلت او کمبود سره مخامخ کړيده ځکه چي د انسان خواهشات نا محدود دي او وسائل د معيشت او اقتصاد محدود دي ليکن الله تعالی په انسان کي يو فطرت او ماده ايښي ده چي ترقي پسند او ايجاد پسند دي نو دانسان لپاره الله تعالی کائنات مسخر کړل تر څو په دغه مسخر کائنات کي د خپل ژوند وسائل په خپله ولټوي او د قوت څخه يي فعل ته راوباسي او دغه قوت الله تعالی د انسان په فطرت کي لا ينفک طريقي سره ايښي ده.

قال عمر(رض) تَعَلَّمو المهينة(کسب) فانه يُوشَکُ اَنَ تُحْتَاجُ اَحَدُکُمْ اِلَی المهينة(الخ) (مناقب عمرابن الخطاب)

يعنی تاسی هر کسب زده کړئ قريبه ده چی يوه ورځ ورته ضرورت پيدا کړي

همدا راز فرمايلي دي مكسبةٌ فيها بعض دناءة خيرُ من مسئلة الناس

(مناقب عمر ابن الخطاب)

كه يو كسب ياد كړي او هغه لږ شانته سپک وی لکه: حجامة، قصابي(حلاقي) وغيره دا ډيره بهتره ده له سوال کولو نه چي د خلکو نه يی کوي او رسوا او ذليل پکی ګرزي.

انساني دماغ د تل لپاره په حرکت کي دي هيڅکله هغه په يوه مقام يا هډه نه ودريږي که چيرته دغه دماغ په مطلوب کار کي استعمال نشي نو بيا دغه دماغ داسي کارونو ته مخه کوي چي د انسان د هلاکت باعث ګرزي.

## اسلام او تمدن

قوله تعالی: وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُم بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلَىٰ عَذَابِ النَّارِ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِي البقره آية (126)

او کله چې ابراهيم(ع) وويل: ای څښتنه، دا يو خوندی هيواد جوړ کړه او د هغه خلکو لپاره د ميوو روزي چمتو کړه چې په خدای او د اخرت په ورځ ايمان لری،

نو الله تعال هغه ته وويل: او څوک چې کافر شی، نو هغه ته به د اور سخت عذاب ورکړئ او هغه د ورتلو بد جاي دي.

تفصيل

الله تعالی د ځمکي خزاني يا مال دولت تر مسلمان پوري خاص کړي نه ده بلکه هر هغه چاته الله تعالی ډير مال په لاس ورکوي چي کوم انسان د دولت اوترقیٔ په لټه کي وي ځکه چي د دنيا او دولت تقسيم کي الله تعالی د کافر او مؤمن تر منځ فرق نه دي کړي بلکه د مسلمان څخه يي کافر ته ښکلي ورکوي چي کوشش وکړه ځکه چي يو حديث کي رسول الله مبارک فرمايلي دي:

وانّ الله يُعْطِی الدنيا من يُحِبُّ و من لا يُحِبُّ ولا يعطی الدين الا لمن لا يَحُبُّ

(رواه احمد)

ترجمه: يقينا الله تعالی د دنيا په ورکړه کي د کافر او مسلمان فرق نه ده کړي او دواړو ته يی ورکوي که څوک ډير کوشش وکړي ډيره ورکوي اوکه نا لږه ورکوي او ددين ورکړه هغه چاته کوي چي د خدای تعالی ډير خوښ وي ناخوښ ته هيڅ د دين واک په لاس کي نه ورکوي.

په دی غوړیدلي بازار د ربع مسکون(ځمکه) کي دين اسلام له ټولو دينونو څخه اول نمبر ترقي پسند دين دي ځکه چي الله تعالی د ځمکی د خلافت او حکومت کولو تاج د انسان په سر کیښودلو بقا او ژوند کول د انسان له تعمیر او ترقي نه نیمګړي یا ممکن نه ده او تعمیر او ترقي د انسان په تجربو او تعلیم سره راځي.

او د ژوند معاملات ټول د علوم ساينسی یا تخنيک او ټکنالوژی سره وابسته او تړلي دي

قوله تعالی: وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ الْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ ۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ. الانعام اية ١٦٥

ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چې تاسې يې په ځمکه کې خليفه ګان ګرځولی ياست او له تاسو څخه يې ځینې له نورو څخه په درجو پورته کړی دی ، ترڅو تاسو وازمايي په هغه څه چې تاسې يې ته درکړی دی بيشکه ستا رب ډير ژر سزا ورکونکي دي او بيشکه هغه خامخا ښونکي بيحده مهربان ذات دي.

خلاصه د کلام دا چي الله تعالی هغه مخکي قومونه په سبب د عصيان او طغيان هلاک کړل او دغه ځمکه يی تاسو ته په ميراث کي درکړه(ای د رسول الله امة)

زما مخاطبين هغه اشخاص او افراد دی چي د علومو عاليه محصلين او پوهان دي نو لهذا زما د بيان طرز او طريقه به ددوی د علم د سويي مطابق کوتاه مختصر او عام فهمه وي نو د نن ورځي درس به زمونږ په اسلامي معيشت او تمدن باندي څرخيږي .

دين مبين اسلام کي د تمدن او معيشت څومره لوړ مقام او مرتبه ده

## د تهذيب او تمدن لغوي او اصطلاحي معنی

د تهذيب لغوي معنی د ګلانو او بوټو په يو ترتيب سره پري کول يا برابرول يا د فصلونو خصمانه کول او ځمکه صفا کول او هغه کاګه واګه شاخونه د ونو نه پري کول او په يوه درجه سره جوړولوته تهذيب ويل کيږی نو د تهذيب معنی له تمدن څخه عامه ده نو دانساني تهذيب معني داده چي انسان تمام اخلاق، عادات، سيرت، صورت رواج، ثقافت روايات، کلتور او رواجونه د اسلام په جامه برابر کړي کوم غلط او نا مناسب حرکات اوسکنات د انسان چي خلاف شريعت غراء دين محمدی(ص) وي هغه به له خپل ځان او معاشری څخه کټ کړي ديته ويلي شي انساني تهذيب او ثقافت يا تهذيب الاخلاق.

او د تمدن لغوي معنی شهریت پسند، سهولت کار او اجتماعي ژوند خوښونکي نو انسان ته حکماء د مدني الطبع لقب ورکړي په دي خاطر چي انسان اجتماعي ژوند دده په فطرت کي نغښتي ده او وحشي حیوان هغه ته ویل کیږي چي د اجتماعي ژوند څخه نفرت کوي

نو تهذیب د هغه تصوراتو او تفکراتو منبع او زیګنده(بیخ) ته ویل کیږي چي په مبادي د اشیاو په ایجاداتو اتکل کوي.

بیا په دی لفظ د تمدن کښي حکماء د لغت نور هم وسعت کړي ده او اهل لغت فرمایي چي لفظ د تمدن د یو قوم رواج، عادات، سوچ، فکر، سیاست، اخلاق او همدارنګه د هر قوم تاریخ او روایاتونو ته هم ویل کیږي او لکه څرنګه چي د تمدن اطلاق په دغه بره ذکر شوو څیزونو کیږي همدغه رنګه د تمدن اطلاق د یو قوم په زراعت، عادت، صنعت، حرفت، ساینسی علوم، تخنیک او ټکنالوژی باندی اطلاق کیږي.

نو د تهذیب او تمدن تر منځ واضح فرق او توپیر داسي ده چي انسان هر عمل او فعل دنیوي چي کومي عقیدي یا نظریي سره تړلي وي مثلا په یو کار کي سوچ او فکر کول او د هغه کار یو حل راویستل او یا په تخیل کي

نقش او نګار او ښايسته کول نو ديته تهذيب ويل کيږي او هم هغه ذهني خريطه يا نقشه کومه چي يو انجنير په ذهن کي جوړه کړيده په خارج کي تطبيق کول يا به دغه ذهني نقشه په خارج کي عملی کول او د قوت نه فعل ته راوښکل نو دغه ته تمدن ويل کيږي.

په ساده ژبه کی باید وويل شي  چي تهذيب د تصوراتو نوم دي او تمدن د تصديقاتو نوم دي .

او همدغه رنګه تهذيب د هغو خيالاتو او افکارو عقايدو نوم ده چي د هغو په نتيجه او پس منظر کي کوم اعمال او افعال ظاهريږي يعني له قوت څخه فعل ته خارجيږي او د عام محضر په مخکي په يوه اصلي شکل ښکاره شي نو دغه ته بيا تمدن ويل کيږي خلاصه د کلام دا دي چي تهذيب او تمدن يو تر بله لازم او ملزوم دي

1. د تهذيب مثال د روح ده او تمدن په شان د جسم دي.
2. تهذيب اصل دي او تمدن يي مظهر دي.
3. تهذيب د انسان زړه ته ويل کيږي چي د تصوراتو او خيالاتو مرکز دي او تمدن د انسان دجسم اعضاء ته ويل کيږي چي هغه اجزاء او اعضاء د جسم ټول فرمانبردار لپاره د زړه دي نو په اعضاء جسماني د انسان د زړه خواهشات پوره کيږي اوپوره کوي يی يا هم په بل تعبير

سره داسي ويلاي شوچي تهذيب يوه ونه ده او تمدن يي پاڼي دي.(علامه عبدالرحمن ابن خلدون متوفی [۸۸۰هـ] مطابق با ۱۴۰م [۷۳] سال عمر)

فرمايلي دي چي اجتماعي ژوند د انسان لپاره يو ضروري او فطري عنصر دي له دي وجه څخه انسان ته مدني الطبع ويلي شوي دي

هرکله چي هغه فطرةً شهرت پسند شولو نو له ده سره مذهبي او اخلاقی قواعد او ضوابط او د حکومت او نظام چلولو لپاره منضبط داسی عام قوانين دي چي په هرچا باندي حاکم وي او د تخصيص تصور پکي نه وي چي عندالموقع د فتني او فساد مخه ورباندي ونيسي.

نو حکماء وايي چي انسان په دنيا کي د ژوند تيرولو لپاره دري قسمه سياست ته اشد ضرورت لري

1. سياست په انفرادي ژوند کي.
2. سياست په کورني ژوند کي.
3. سياست په شهري او مدني ژوند کي.

اول: په انفرادي ژوند کي سياست ته تهذيب الاخلاق ويل کيږي چي انسان بايد په دنيا کي خپل ظاهر او باطن د خپل افعال اواقوال له خبائثو او د رزائلونه په اکمله

طريقي سره اجتناب وکړي او دفعل حسنه په وسله تل سنبال وي

دويم: د کورني ژوند سياست ته سياست المنزل ويل کيږي انسان بايد ورځني ژوند کي د خپل چاپيريال نه مکمل واقف وی او د خپلو ما تحتو د کړو وړو څخه باخبر وي تر څو نه ده ته او نه هم نورو خلکو ته دده له لاسه ضرر ورسيږي

دريم: سياست مدني -هغه سياست ته ويل کيږي تر څو خپله معاشره په اسماني دين داسي ښايسته کړي چي حتي د تخريب سوچ او فکر پکی ختم شي.

قال رسول الله(ص) لَاضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ فِي الْإِسْلَام

(ابن ماجه)

يعني اسلام کی نه ضرر شته او نه هم ضرار دده حديث تفصيلی معني داسی ده چي په اسلام کی ضرر نشته يعني مسلمان بايد داسي نفعی ته لاس ور نه وړي چي د بل مسلمان ته پکي ضرر ورسيږي او د ضرار معني دا دی چي خپل ځان ته پکی هيڅ نفع نه وي ليکن بل مسلمان ته پکي ضرر وي لکه د چا مال هيڅ په هيڅ خرابول.

همدا راز شاه ولی الله المحدث دهلوي متوفي ۱۷۶۲م په حجت البالغة کي فرمايلي دي چي:

انسان لکه څرنګه چي نور حيوانات خوراک او څښاک کوي او د ګرمی او يخني څخه ځانونه ساتي او دخپل بقاء ته ضرورت لري هم بعينه انسان هم دغو څيزونو ته ضرورت او احتياج لري .

الله تعای انسان ته دري(۳) داسی خصوصی خواص او عادات ورکړي دي چي دغه خواص او عادات په نورو حيواناتو کي نشته دي.

1. اول رفاه عامه يعني د ژوند سهولتونه خوښوونکي
2. حُبّ جمال يعني يو کار د زړه په شوق سره کول
3. ماده ايجاد او تقليد يعني انسان تل دا خبره غواړي چي هيڅ يوه ميدان کي هم د بل چا څخه په هر کار کي وروسته يعني شاته پاتی نشم

قوله تعالی: أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ الزخرف اية ۳۲

ژباړه : ايا ستا درب رحمت دوی ويشي او مونږ د دوی په مينځ کې په دې دنيا کې د دوی ژوند په مينځ کې

ويشلی دي او مونږ په دوی کې ځيني له يو بل څخه پورته کړي دي، د دي لپاره چې يو بل څخه کار واخلي او ستاسو د خدای رحمت له هغه څه څخه غوره دي چې دوی يې راټولوی

### تفصيل:

### اسلامي ملکونه ولی پسمانده دي؟

د تاريخ د مطالعي په حواله دا خبره په زغرده کولای شو چي د يو قوم د عروج او زوال يا د خوشحالی او بد حالي يا امن او جنګ يا دکاميابی او ناکامی لپاره ډير وجوهات مخ ته راځی خو غټه او بنيادي وجه يي مونږ ته داسی په نظر کی راځي چی د کوم قوم معيشت مستحکم او مضبوط وي هغه قوم په هر حال د دنيا په بازارکی منلی، کامياب، مضبوط او خود مختاره شميرل کيږي ځکه چی په اوسني دور کي که مونږ هر څومره وګورو سوچ او فکرپری کوو نو هغه ملکونه چی د هغوی معيشت او اقتصاد مضبوط او مستحکم دي لکه اکثره اوروپايی ممالک شول هغه د نړي له ټولو ملکونو او حکومتونو څخه په هر لحاظ مخ په وړاندي دی او د دغه برعکس هغه ملکونه او حکومتونه چي په اقتصادي ډګر کي کم يا د نيشت سره برابر دي او معيشت يی مستحکم نه دي که دغه ملکونه په انفرادی قوت هر

ځومره غني وي خو بيا يی هم د غلامي زنجير په غاړه او د سوال کاسه په لاس د نورو بډايه ملکونو ته لاس ترزني ناست دي، او خير غواړي که چيري يو آسماني آفت يا ځمکني آفت وربانديي راشي نو شپه اوورځ به د هغه ملک زمامداران د سوال کچکول خپل هر دوست او دشمن ته نيولي وي او خير ور ځخه غواړي او چي کله دغه خير جمع کړي نو بيا يي خپل جيب ته واچوي ځکه د حساب تصور نه وي نو هغه وګړي د ملک لپاره غربت کي شپی او ورځي تيروي

او دخپل حُريت او آزادی غږ يی بلکل په خوله نشي راتللی له بد قسمتی ځخه ټول يا اکثره اسلامي ملکونه د غربت ښکار شويدي اګر چه داسلامي ملکونو جغرافيه د معد نياتواو خزائنو او جواهراتو ځخه ډک او مالامال دي خو داسلامي ملکونو زمامدارن په ماضی قريب او حال کي د عيش اوعشرت په نيشه کي مست دي نو د ملک او د رعيت افلاس او ناتوانئ ته هيڅ متعهد نه دي.

د اسلامي ممالکو دغه حاکمان له علم، عرفان، شفافيت او تهذيب اسلامي سره بالکل نا اشنا دي او د اسلامي ملکونو دغه زمامداران د خپل د مستقبل الهام له هغه چا ځخه اخلی چي هغوي له دين او مذهب سره کوم شناخت نه لری نو ځکه فحاشی او عريانی ورته کلتور، فرهنګ

او تهذيب ښکاري او په تش نوم مسلمانانو دماغ د غير اسلامي رواياتو څخه ډک دي.

نو په دي خبره کومو اشخاصو چي د تل لپاره په غير اسلامي معاشره کي تعليم او تعلم حاصل کړي او د خپل دين او مذهب څخه لري پاتی شوي وي نو دهغوی دل او دماغ کي د اغيارو هغه ګنده سوچ او هوا ځپي وهي نو بلاخره د خپل ملک دترقي او بلندي لپاره د اغيارو مشورو ته منتظر او د هغوي څخه الهام اخلي او د سوال کاسه په لاس د خپل ملک او ملت اصلي شتمنۍ په جعلي او ناچله پلاستکو خرڅوي.

سوال:

د اسيا  او افريقا براعظمونه د غربت ،افلاس ، لوږي او د ککړ چاپيريال ناسور وهلي او د يو سالم اقتصاد د تعليم نشتوالي ولی ښکارشوي دي؟

جواب:

ښکاره دي چي د حالاتو او واقعاتو په کتلو سره دا خبره په ذهن کي زر قرار او سکون نيسی چي دغه ملکونه د جمود او فلج اقتصاد هدف ګرزولۍ دي چی په دوي کي مشري او قيادت موروثي را روان دي نو که د يو حاکم په نسل کي و لو که هر څومره احمق او جټ وي نو

ددغه حاکم د مرګ نه بعد به دغه احمق د ملت غمخوار او مشر بلل کیږي نو ځکه اسلامي ملکونه شاته پاتي دي؟

قوله تعالي: وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِينَ فُضِّلُوا بِرَادِّي رِزْقِهِمْ عَلَىٰ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيهِ سَوَاءٌ ۚ أَفَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ.

النحل اية (71)

ترجمه: الله تعالی په تاسو کې ځیني د نورو په پرتله د رزق په برخه کې غوره کړي دي، نو هغه کسان چې هغوی ته دا امتیاز ورکړل شوی دي، هغه کسان نه دي چې خپل رزق خپلو غلامانو ته واړوی، ترڅو دوی دواړه په دې رزق کې مساوی شریکان شی نو بیا ولی د الله تعالی له احسان څخه انکارکوي.

## د شریعت مقاصد پنځه دي:

قال حمد محمد الغزالي متوفي (۵۰۵هـ)

اِنَ مَقْصُود الشَرْعِ مِنْ الخَلْقِ الخَمْسَةٌ وَهُوَ اَنْ يَحَفَظَ عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ وَنَفْسُهُمْ وَعَقْلُهُمْ وَنَسْلُهُمْ وَمَالَهُمْ فَكُل مَا يتضمن حفظ هذه الاصول الخمسة فهو مصلحة و كل ما يفوت هذه الاصول فهو مسفده ودفعها مصلحة المستصفي ج١ ص ٢٨۴

ترجمه: د شریعت مطهره د نزول حکمت په مخلوقاتو کي پنځو څیزونو کي منحصر دي

1.دا چي د دوي عقیده او دین محفوظ وي.
2.دا چي د دوي نفس ذات حُر او ازاد محفوظ وي.
3.دا چي د دوی عقل او ضمیر محفوظ او ازاد وي.
4.دا چي د دوی نسل او نسب محفوظ وي.
5.دا چي د دوی مال او جلال محفوظ وي.

او د دغه پنځو څیزونو د حفاظت لپاره په قران مجید او فرقان حمید کي جای په جای اعلان کړیده.

قوله تعالی : ولا تشرکوا به شیا

ترجمه: او په الله تعالی سره یو زره شک هم ونکړي.

قوله تعالي: وان هذا صراطی مستقیما فاتبعوا ولا تتبع السبل فتفرق بهم

ترجمه: یقیناً دغه لار ده (دین اسلام) ددغه لاري تابع شي او بله لار اختیار نکړي نو جلا جلا به شي یعني تاسي به تار په تار کړي.

قوله قال رسول الله(ص) مَنْ بَدَّلَ دِیْنَهُ فَاقتلوه

ترجمه: څوک چی خپل دین مبین (اسلام) بدل کړي مړ یي کړي.

## حفظ النفس والعرض

قوله تعالی: ولا تقتلوا اولادکم خشیة املاق (سورة الاسراء اية ٣١)

ترجمه: او تاسو اولاد د فقر له ویري مه وژني همدا مونږ هغوی ته روزی ورکوو او تاسو ته هم

قوله تعالی: ولا تقتلو النفس التی حرم الله بالحق (سورة الاسراء اية ٣٣)

ترجمه تاسو هغه نفس مه وژني چي الله تعالی حرام کړي دي مګر په حقه سره.

قوله تعالی: ولکم في القصاص الحیات یا اولی الباب (البقرة اية ١٧٩)

ترجمه: خاص د تاسو لپاره په قصاص کي ژوند(موجود) دي اي د عقل خاوندانو.

## حفظ العقل

قوله تعالی: یا ایهاالذین امنو انما الخمر والمیسر

ترجمه:ای مومنانو شراب او قمار پلیتی ده او دا مرادار عمل د شیطان دي له دی څخه ځانونه وساتي چي کامیاب شي

وعن ابن عباس(رض) مرفوعاً حرمت الخمرقلیلها و کثیرها

ترجمه د شرابو لږ اوډیر ټول حرام دي

قوله تعالی:والمسکر مِنْ كُلِ شَرَابٌ

ترجمه: نیشه کوونکی څیزونه شراب دي او هغه حرام دي

و قال رسول الله(ص) کل مسکر خمرٌ و کل خمرٍ حرام

ترجمه: نیشه کوونکی څیزونه شراب دي او هغه حرام دي.

## حفظ النسل

قوله تعالی: ولاتقربوا الفواحش ما ظهر منها وما بطن

ترجمه: او تاسو د بی حیایی کارونو ته مه نږدي کیږی هغه که په دغو کي ظاهر دی او هغه چی پټ دي

قوله تعالی:ولا تقربوا الزنا انه کان فاحشة وساء السبیلا

ترجمه: نو تاسی د زنا دواعي ته هم مه نږدي کيږي دا غټه کناه او بده لاره ده

قوله تعالی:الزانية والزاني فاجلدو کل واحدة منها مائة جلدة

زناکاره ښځه(چي واده يي نه وي کړي) او زنا کاره سړي هر يو سل سل درې ووهي

## حفظ الاموال

قوله تعالی: ولا تقربوا مال اليتيم الا بااللتی هي احسن

ترجمه: د يتيم مال ته مه نږدي کيږی مګر په احسن طريقی سره

قوله تعالی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ

ژباړه: ای هغو کسانو چي ايمان مو راوړي ده تاسو په خپل منځ کي د يوبل مالونه په ناحقه مه خوري.

قوله تعالی: السارق والسارقة فاقطعوا ايديهما

ترجمه:د غله سړي او غلي ښځی لاسونه کټ او پري کړی.

دغه پنځه ځيزونه ضروريات د دين ويل کيږي او دضروورياتو تعريف داسي ده:

چي ضروريات عبارت دي له هغه اعلى مصلحتونو څخه چي تضمين د حفظ د مقاصد خمسه وو

د شريعت لره دی او هر هغه ځيزونه په ضروورياتو کي داخل او شامل دي چي قيام د مصالحو ددين او دنيا ورباندی ولاړه وي او په فقدان ددغو ځيزونو سره د دين او دنيا مصلحتونه له فلج او رکود سره مخامخ کيږي.

لهذا د مقاصد شرعية الخمسة وو لره دين مبين اسلام اووه(۷) القاب وضع کړيدي:

1. ضروريات
2. احتياجات
3. تحسينات
4. تزينات
5. اسرافيات
6. تبذيزات

## تفصیل

قوله تعالی:و انزلنا الحدید فیه بأس شدیداً و منافع اللناس

ترجمه: اومونږ اوسپنه نازل کړیده په دي کي قوت د سخت جنګ دي اود خلکو لپاره ډیري ګټي دي.

قال علامة ابن کثیر في التفسیر ذیل هذه الایة الحدید مرادعاً لمن ابی الحق و عانده بعد قیام الحجة فیه بأس شدیدٌ یعنی السلاح السیوف والسنان والضال والدروع ومنافع للناس کالفأس والقدوم والمنثار والمجروفة ودلالت التی ذستعان بها فی الراثه والحیات والطبخ وغیر ذالک
(علامه ابن کثیر(رح)المتوفی(۷۷۴هـ)

ترجمه :

علامه ابن کثیرددغه ایة مذکوره نه د لاندی داسی تفسیر بیان کړیده چي مونږ اوسپنه پیدا کړیده دي لپاره د دفع کولواوشړلودهغه کسانو څوک چي د حق انکار کوي اوضد کوي پس د قیام د دلائلو څخه او په دغه اوسپنه کي د شدید اوسخت جنګ کولو توان او طاقت شته ده. او وسائل دجنګ ترینه جوړیږی لکه:

1.توري
2.نیزي
3.غشي

4.زغري

او په دغه اوسپنه کي ډيري نفعي لپاره د خلکو دي لکه:

1.تبر
2.اره
3.بيلچه
4.د فارم نساجي
5.د مطبخ وسائل وغيره..

قال رسول الله(ص) عن ابن عمر بُعِثَتْ بَيْنَ يَدِي السَاعَةِ حَتّى يَعْبُدَالله وَحْدَه لَاشَرِيْکَ لَهُ وَ جَعَلَ رِزْقِي تَحْتَ ظِلّ دُمْحي وَجُعِلَتْ الذِلّةَ والصِّغَارُ عَلى مَنْ خَالَفَ اَمْري وَمن تشبه بقوم فهو منهم (ابوداود)

ترجمه:دابن عمر نه روايت دی رسول الله(ص) وه فرمايل - زه د قيامت څخه لړ مخکي راليږل شوی يم تر دي پوری چی خلک د يو الله تعالی عبادت وکړي او شريک ورسره ونه نيسي او زما رزق زما د توري په سيوري کي مقرر کړاي شويده او ذلت او رسوايی زما د مخالفينو اود هغه خلکو چي زما اطاعت نکوي مقرر کړل شويدی او څوک چي کوم قوم سره شباهت کوي د قيامت په ورځ به دهغو له جملي څخه حشر کيږي

## اهم تفصل

په دغه وړه جمله د قرانکريم کي يو پوره سمندر پروت دي ځکه چی بقا د عالم د کائناتو او نظام حيات کلاً کلاً ټول د اوبو او د اوسپنی سره تړلي دي په عصر حاضر کي مونږ د سر په سترګو خه ننداره کوو چی د اوسپني اهميت څومره اهم دي او هغه ملکونه چي پيشرفته وسائل يا تخنيک(ټکنالوژي) لري دا ټول د اوسپني پيداوار دي په نني عصر او زمان کي چي کوم ملکونه په ساينس او ټکنالوژي سمبال او بوخت او مخ په وړاندي روان دي نو هغه ممالک چی د ټولي نړۍ خپل ځانونه امراء او فرمان رواء شماري، نو يقيناً هغوي قائدانه مقام هم حاصل دي.

## تفصيل

په ګرده نړۍ کي تقريباً هغه ملکونه چی سکه يي چليږي هغه دوه سوه پنځه(۲۰۵) ملکونه دي او د ملل متحد چتر لاندي تقريباً اووه نوي(۹۷) ملکونه دي او دايمی غړي يي پنځه(۵)دی

1.فرانسه
2.امريکا
3.بريتانيا
4.روسيه

5.او چین دي

په اوسني عصر کي انفرادي قوت ته هيڅ يو ملک دومره زياد ضرورت نلري څومره چي د باروتو قوت ته ضرورت لري نو کوم ملک چي د ټکنالوژي اقتصاد مخ په وړاندي دی هغه ملک د نورو ممالکو لپاره قائدانه مقام لري.

يو ملک تر هغه وخته پوري خود کفاء يا په خپلو پښو ولاړ نشي شميرلکيدلای ترڅوچی د خپل ملک وسائل په کار وانه چول شي، او خپله ترينه فايده اوچته نکړي.

## د ځوانانو حذر او فلاح لټول

قال رسول الله(ص)اوصيكم باالشبان الخيراً فانهم ارق افئدةٌ و ان الله بعثنی بشديدا و نذيرا فخالفني الشبان و خالفني الشيوخ ثم قَرَءَ فطال عليهم الامر فقست قلوبهم ذكره الشعالبی فی الطائف (والطرايف۲۵۰)

ترجمه: رسول الله(ص) فرمايلی زه وصيت کوم تاسو ته په لټولو د خير سره په ځوانانو کي ځکه چي د دوي زړونه نرم او صالح دي لپاره د حفظ او يادداشت د هر شي او زه الله تعالی زيرئ ورکونکي مسلمانانو ته (په جنت) او ويرونکي کفارو ته د(دوزخ) لپاره راليږلي يم

زما مدد او تعاون د تل لپاره ځوانانو کړيده او زما مخالفت اکثره مشرانو او شيوخو کړيده.

عربي يوه مقوله ده چي (المسائل باالوسائل) يعني د مشکلاتو حل په اسباب او وسائلو سره کيږي.

نو د تمدن د او اقتصاد لپاره ډيرو وسائلو ته ضرورت دي لکه د زراعت د عروج لپاره خپل وسائل دي او د فابريکو لپاره خپل وسائل، د صنعت لپاره ځان ته وسائل دي او حرفوی لپاره ځان ته وسائل دي او يو پکي اهم او مرکزي وسيله محنت او مزدوري کول دي د علم اصول يوه قاعده ده چي مُقَّدِمةِ الوَاجِبْ واجب وي د واجب مقدمه هم واجب وي ددغي قاعدي لاندي بايد وويل شي چی دغه يو پرمخ تللي نړی کي اوسيدل او دخپل ملک دين ،ناموس ،مال او نسل حفاظت کول او خپلو وګړو ته د معيشت نظام برابرول او دخپل ملک څخه فايده اخيستل او دخپل ملک ملی منابع اود اوبو ذخيره ساتل بغير د پيشرفته وسائلو او ټکنالوژي څخه باالکل ممکنه نه ده.

نو معلومه شوه چي په ننی عصر کي د خپل ملک د دفاع او د بقا په خاطر پر خپلو کسانو مخ تللی اسلحي جوړول د دفاع هوايي مزائل جوړول او د هغوي لپاره خپل

مسلکی کسان روزل او تعليم ورکول اومعياری پوهنتونونه جوړول همدارنګه مډيکل او انجنيري وغيره کوم چي د وخت تقاضي او ضرورتونه دی د قوم او ملک ته مهيا کول داسي ضروری او فرض عين دي لکه چي لمونځ ، روژه ، زکواة او حج په مونږ فرض عين دي ولی چي د تکنالوژی له علم څخه بغير ټوله معاشره رکود اوغلامي سره مخ کوي

## ټکنالوژي حتماً حاصلول پکار ده

او دغه ټکنالوژي لاس ته راوړل دکمال غيرت اواستقلال تقاضاوي دی ځکه چي کله رسول الله(ص) د بنو قريظه وو ښځي او ماشومان په رياض کي د غلامانو په شکل خرڅ او وپلورلی نو په هغه مجموع رقم او پيسو باندي يی اسلحه واخيسته تر څو ددشمن لپاره په اسلحه تل سمبال او سر ګذر شي.

مسلمانان بايد چي د کافر له اوتو بوتو متأثر نشي

و عن ابی هريرة(رض) قال قال رسول الله(ص) المومن القوي خير و احب الی الله من المومن ضعيف وفي کل خير احرص علی ما ينفعک و استعين بالله ولاتعجز

و ان اصابک شیٔ فلا تقل لو اَنِّي فعلت لکان کذاو کذا ولکن قل قدرالله فعل فان لو تفتحُ عمل الشیطان (رواه مسلم)

ترجمه:د ابی هریرة څخه دا روایت دي چي رسول الله(ص) فرمايي قوی مومن الله تعالی ته غوره او محبوب دي له ضعیف مومن څخه او دواړو کي خیر موجود دي کوم شئ چي نافع وي د هغه حرص کوه تر څو یی حاصل کړي او په الله تعالی توکل کوه او بلکل ځان ورته کمزوری نکړي او که باالفرض کوم تکلیف په حصول ددغه کار کي درته ورسیده نو بیا دا مه وایه چي که داسي مي کړي وای او یا مي داسی کړي وای نو داشکل به وو بلکه داسي ووایه چي کوم څه مقدر وي هفه به کيږي که داسي که داسي او داسي ويل د شیطان د وسوسو دروازه خلاصه وي!

ځکه چي شاه ولی الله الدهلوي فرمايي:

مغز خالی کارخانه شیطان است.

یعني پوچ دماغ او کمزوري فکر د شیطان د وسوسو فابریکه ده او د خپل ملک د ترقي او د ابادي لپاره د اغیارو د ملکونو ویره په حقیقت کي وسوسي د شیطان دي.

د اسلام په ختِه او خمیر کي دا خبره نغښتي ده چي غیر حق د انسان وینه توي نشي.

رسول الله(ص) په مدني ژوند کي چي تقریباً لس کاله جوړیږي نو تخميناً شپږويشت(۲۶) غزوات یي کړي دي او شپږپنځوس(۵۶) سریی یي اطراف او کنارو د مدیني منوري ته لیږلي دي .

اوپه دغه غزواتو کي ډیرشدید جنګونه هم شویدي خو په دغه غزواتو او سریوکی مجموعا تقریباً یولس سوه و اتلس(۱۱۱۸) کسان قتل شوي دي چي مجموعه شهیدان د مسلمانانو دری سوه او نهه پنځوس(۳۵۹) کسانوجام د شهادت نوش کړیده او ووه سوه نهه پنځوس(۷۵۹) کفار هلاک شویدی .

و عن سهل او سعد(رض) ان رسوالله(ص) قال یوم خیبر لَأُعْطِیّن الرَاَیَةَ غداً رجلاً یُحِبُ الله وَرَسُولَهُ و یحبهُ الله و رسولهُ یفتح الله على یدیهِ فبات الناس یَدُوُکُونَ لَیْلَتَهُمْ اَیُّهُمْ یُعْطَاها فلما اَصْبَحُو غَدَوْ علی رسول الله(ص) کُلُّهُمْ یَرْجُو اَنْ یُعْطَاهَا فقال اَیْنَ علی(رض) ابن ابی طالب فقیل هو یَشْتَکِینَ عینه فَاَرْسَلُوا الیه فَاْتِی بِهِ فَبَصَقَ فِی عَیْنَیهِ! وَدَعَا لَهُ فبراء کأن لم یَکُنْ به وَجْعُ فاعطاها الرایة فقال اَنْفِذْ عَلی رئسلک حتّی تَنْزِلَ بِبَساحَتِهِمْ ثُمَّ اَدْعُهُمْ اِلَی الاسلام وَ

اَخْبَرَهُمْ بما وَجَبُ عَلَيْهِمْ من حَقِّ تعالى فيه فَوَالله لأن يَهْدِي الله بِکَ رَجُلاً واحداً خَيْرلک مِن حُمُرِ النِعَمْ (البخارى)

ترجمه: رسول الله مبارک د خيبر د غزا په موقع وفرمايل چي سبا ته به زه د جنګ جنډه هغه چا ته په لاس کي ورکووم چي هغه له الله تعالى او دالله د رسول سره مينه لرى او الله تعالى او د هغه رسول له ده سره مينه کوي هر يو صحابه غوښتل چي دا لقب وګتي کله چي سبا شوونو رسول الله مبارک وفرمايل چي على ابن ابى طالب چيرته ده چا ورته ويل چي هغه د سترګو د تکليف په خاطر نشي راتللي رسول الله مبارک طلب کړو او په سترګو کي ورته خپلي مبارکي لاړي(توکاڼي) پورى کړي او دا هدايت يي ورته وکړو په اطمنان سره د خيبر د هغي قلعي په طرف ولاړ شه او خلک اسلام ته دعوت کړه په الله تعالى باندي قسم کووم چي دستا په وجه يو انسان اسلام کي داخليدل ستا لپاره د سلو اوښانو نه هم غوره دي ځکه چي اسلام د قتل او کشتارته قائل نه ده بلکه د امن ته قائل ده لکن د کافر وجود د امن لپاره خطره ده ځکه اسلام دجنګ په وخت کي يى د قتل حکم کړي ده.

داسلام دين مبين په فردي ژوند يا اجتماعي ژوند کي له سوال کولو(ګدايي کول) ځخه ډيره کرکه اونفرت کوي ځکه چي حديث شريف کی راغلی دي:

الاسلام يعلوا ولا يعلی عليه(الحديث)

د اسلام مزاج بلند او بالا(اوچت)دي نونه غواړي چي بل مذهب په اسلام کي تفرق حاصل کړي يدالعليا اَفْضلُ مِنْ يَد السُفْلي(الحديث)

ترجمه - ورکونکي لاس بهتره دي له اخيستونکي لاس څخه.

رسول الله مبارک په مدني ژوند کي هر چاته د خپل اقتصاد د قوي او پياوړي کولو توصيه کوله.

وعن انس ابن مالک(رض) ان رسوال الله(ص)باع حلساً وقدحاً و قال من يشتری هذالحلس والقدح؟

فقال رجل اخذتها بدرهم فقال النبی(ص)من يزيد علی درهم؟

فاعطاه رجلٌ درهمين فباعها منه رواه الترمذی

ترجمه: رسول الله مبارک د یو صحابي ټراټ او کاسه په لیلام خرڅه کړه په دوه روپۍ باندي او بیاورته توصیه وکړه چي د یوي روپۍ کور ته غله یوسه او په بله روپۍ باندي یو تبر اولاستۍ او ورسره رسۍ (پړۍ) راوړه او بیا یي د هغه صحابی په تبر کی رسول الله په خپل مبارک لاس لاستۍ واچولو او ورته یی ویل چي پنځلس ورځي به د غره د لرګیو د راوړو او خرڅولو نه بغیربیکاره مه کینه کله چی پنځلس ورځي وروسته رسول الله مبارک صحابي د لاس د ګټي پیداوار څخه خبر کړو نو هغوي ډیر خوشحاله شول چي د خپل لاس په کسب سره هغه له ګدایی ګري او سوال څخه محفوظ شو ځکه چي د غربت نتائج او نقصانات دین اسلام موږ ته زرهاوو دفعو سره بیان کړي دي.

قال رسول الله(ص) كادالفقر ان يكون كفراً (البيهقى فى الشعب الايمان)

یعنی: کله کله فقر سړي کفر ته رسوي

عن عبدالله ابن عمر(رض) قال رسول الله(ص)ما يزال الرجل يسأل الناس حتي يأتي يوم القيامة ليس فى وجهه مزعة لحم (البخاري)

ترجمه: یعني یو سړي همیشه او تل د خلکو څخه سوال کوي تر دي چي د قیامت په ورځ په داسي حالت کی خدای تعالی ته وړاندي کیږي چي په مخ باندي به یی یوه ټوټه د غوښي هم نه وي

## تفصیل

اقتصادي او معاشی کفالت د هر یوه وګړي د یوه مملکت بنیادي حق دي ځکه چي د غربت او افلاس په تیارو کي د ایمان شمع اکثره روښانه کول ممکن نه

وي نو لهذا انسان خپل اقتصاد له غلا او له سود او غیر اخلاقي لارو څخه پیدا کوي او بالاخره اخري انجام ددغو ګټو او پیداګرئ او دخالق کائنات څخه په سرکشئ او بغاوت او له الله تعالی د وجود څخه د انکار باعث شي چي دا عمل د دنیا او هم د آخرت د خسران سبب وګرزي.

د اقتصاد او معشیت مهمي او اړیني لارى دا دي چي دخپل ملک خزائن او دفائن مسلکي طریقو سره اخراج شي او دا هغه وخت کي ممکن کیداي شي چي موږ په خپل خداداد مملکت افغانستان کي ساینس او ټکنالوژي(تخنیک) ته وده ورکړو او په خپله دفاعي ټکنالوژئ او همدغه رنګه د معدنیاتو زیرمي او نور د

ضرورت وسائل موجود اوکار ترینه په خوښه واخلو او خپل د اوبو بندونه مهار کړو.

د ابوبکر صدیق(رض) ویناوي دي:

نَقَلَ الصُخُورِ مِنْ مَوْضِعِهَا اَهْوَنَ مِنْ تَفْهِيمْ مَن لَايَفْهَمْ (مناقب الصديق)

ترجمه: د لویوډبرو(غتو تیګو) له یو جای څخه بل جاي ته نقل یا وړل آسان کار دي د ناپوهه له پوهولو څخه!

د یو ترقي یا پرمختللي ملک یاحکومت یوه لویه نښه او علامه دا وي چې د صادراتو او وارداتو مینځ کي تعادل او توازن موجود وي او د خراجاتو او درآمدو میثاق تل پاتي وي.

لکه چې حضرت ابوبکر فرمایلي دي:

اِنّي لَاَبْغَضُ لِاَهْلِ بَيْتِ يُنْفَقُونَ رِزْقَ اَيَامٍ فِی يَوْم وَاحِدِ (مناقب الصديق)

یعني زما غوصه په هغه خاندان یا کور والا ته ډیر رازي چي د ډیرو ورځو مصرف په یوه ورځ کي وکړي یعني د درآمد څخه یي اخراجات ډیر وي.

قال رسول الله(ص)ان الله ينهاكم عن قيل وقالٍ واضاعة مالٍ وكثرة السوالٍ

ترجمه: يقيناً الله تعالی د فضول خبرو څخه او د اسراف کولو څخه او د (کثرت) زیاد سوال کولو څخه منع فرمائلي ده.

## د اسلامي ملک حاکمان

د یو ملک معیشت هغه وخت په خپلو پښو ودریدلای شي چي د ملک زمام داران د ویښ ضمیر خاوندان وي لکه څرنګه چي د خپل مال او دولت حفاظت اوساتنه په هر یو شخص او فرد باندي لازم او فرض ده بعینه همدغه رنګه د اسلام دین هر مسلمان ته دا توصیه کوي چي د بل مسلمان مال جان ناموس ته د قدر وړ نظر د حفاظت وکړي کامل مؤمن تر هغه پوري یو شخص نشي جوړیدلای تر څو د خپل ځان په شان د بل مسلمان عزت او عظمت ترینه خوندي نه وي.

قال رسول الله(ص)کُلّ المِسْلِمَ عَلی المِسْلِمِ حَرَامٌ دَمه وماله و عِرضه (رواه مسلم)

ترجمه: په هر یو مسلمان د بل مسلمان مال او عزت او نفس او وینه حرام او ناجائز ده ځکه چي بل کس مال خوړل او د بل انسان حیثیت خرابول او د بل انسان وینه تویول دا خو د ملک او ملت سره جفا ده او بالاخره د خپل ملک اقتصاد له جُمْودَ او رُکود سره مواجه کول دي

ځکه چي امنیت ختم شي نو دا بدبختي منځته راتلای شي، لکه چي مونږ د رباني اوصبغت الله د حکومت شاهدان یو.

قال عمر ابنِ الخطاب لَایعرفُ قَدْر الاِسْلامَ من لمْ یَقْرء حَیَاةَ الجاهلیةَ (مناقب عمر)

ترجمه:د اسلام قدر تر هغو چاته نه معلومیږي تر څو یې چې د جاهلیت دورکتلاي نه وي نو ډیر سم او ښه خلک د اسلامي امارت له احساناتو څخه مشکور دي چاچي بزنس یا تجارت یا ژوند په افغانستان کي هغه وخت کړای وی کله چي د صبغت الله او رباني لنډه غرو ته افغانستان په میراث پاتي شوي وه لله الحمد اوس هغه تصور اسلامي امارت عنقا کړلو.

و عن رافع ابن خدیج قال قیل یا رسول الله(ص) اَیْ الْکِسْبِ اَطْیَبُ قال عَمَلْ الّرجُلِ بیده وَ کُلَّ بَیْعٍ مبرور(کشف النفقة) عن جمیع الامة.

یعني رسول الله مبارک څخه پوښتنه وشوه چي کوم کسب غوره او بهتر دي هغه(رسول الله مبارک) وفرمائل چي انسان پخپل لاس یو کار کوي دا غوره دي پاکه اوسوتره بیع کول چي دوکه، غِل او غیش په کي نه وي

## نظام حکومت له کفر سره چلیږي نه له ظلم سره.

و عن ابی عثمان قال کتب الینا عمرِ ابن الخطاب(رض) وَ نَحْنُ بِاَزَرْبَایْجَاَن یَا عَتْبَةَ اِبْنُ فَرْقَدَ اَنَّهُ لَیْسَ مِنْ کَدِکَ ولا من کَدابیک ولامن کدأمک فاتبعَ المسلمین فی راحالهم فما تتبع في رحلک (باب مسلم الصحیح)

ترجمه: حضرت عمر ابن خطاب(رض) عتبةابن فرقد ته ولیکل کله چي دوي په آزربایجان کي مسئول و چي ای عتبة دا بیت المال نه د تا دي نه د تا د پلار او نه د تا مور ګټلی دي دا مسلمانانو ته په مړه خیټه په خپلو موضوع ګانو خوراک ورکوه لکه څرنګه چي په مړه ګیده خوراک کوي (اقتصادیات ۱۰۲)

همدغه رنګه عثمان ابن عفان د هغو کسانو لپاره یو مستقل فرمان جاري کړو چي د غلامانو او وینځو څخه روزانه ایجاره غواړه او د مال د ګټلو سلسله کي یی دا فرمان صادر کړو:

لاَ تُکَلِفُوا الاَمْةٌ غَیْرَ ذَاتِ الصُنْعَةَ الکسب فانکم متي کَلَفْتُمُوهَا تلک کسب بفرجها

ولا تكلفوا الصغير الكسب فانه اذالدريجت سرق واعفوا اذا اعفكم الله وعليكم من الطاعة بما طاب منها (موطا امام مالک)

ترجمه:تاسی هغه وینځي پیسو ګټلو ته مه مجبوره کوي چي صنعت او کسب يي زده نه وي بيا به په زنا روپۍ ګټي او خپل واړه غلامان په ګټه کولو مه مجبوروۍ ځکه چي بيا به لپاره د کسب روپۍ غلا کوي او تل عفوه ورته کوي او پاک خوراک ورباندي خورۍ!

په یوه موقع حضرت علي ابن ابي طالب(رض) خپلو حکامو د خراج وصول والاو ته وفرمائل:

فَاِنْكُمْ خُزَانَ الرَعْيَةِ وَ وُكَلاءُ الامّةُ وَسُفَرَاءُ الائمة ولا تحسو احداً عن حاجتهِ ولا تحبسو عن طلبتهِ ولا تبعن للناس فی الخراج کسوة الشتاء ولاصيف ولا دابة يعتملون عليها ولا عبداً ولا تضربن احداً سوطاء لمكان درهم ولا تمسن مالُ احدٍ من الناس مُصل ولا معاهداً الا ان تجدو فرساو سلاحاً يعدى به على اهل الاسلام (نهج البلاغة)

ترجمه:ای عمالو د خلافت اسلامیه تاسی د خپلو ما تحتو او رعيت خزانه چيان ياستي، او د امت مسلمه نماينده ګان ياستي او خپلو مشرانو حکاموسفيران ياستي خبر دار تاسی هيڅ څوک له خپل حاجت او ضرورت پوره

کولو نه مه منعه کوي او هیڅوک له خپل مطلوب مسائلو څخه مانع مه جوړیږي او په خراج اخیستلو کي له خلکو څخه د ژمي کالی او نه د اوړي کالي جبرا واخلي اونه د خلکو نه مرکبونه یا غلامان تیرنه واخلي په خراج کي اود درهم په حصول کي خلکو سره جبر یعني وهل ټکول ونه کړي

خلاصه نه د کوم مسلمان او یا د کوم ذمی له لاس څخه کوم شي په زوره سره واخلئ که چیري دوی سره داسی مرکبونه یا اسلحه وي چي کافران له هغوي څخه استفاده کوي بیا یی ترینه واخلي

او جناب علي ابن ابی طالب تاجرانو ته او صنعت کارانو ته یو خط ولیکلو او یو څه هدایات یی ورته کړي او هغه په لاندي ډول دي :

اِسْتَوصُ بالتّجار وَ ذَوِی الصنَاعَات، و اوص بِهِمْ خَیْراً المقیم منهمْ والمضرب بماله، والمَتَرِقِقُ بِبَدَنِهِ، فانّهم مواد المنافع، واسباب المرافق،وجلا بها من المباعد والمطاوح والمطارح، في برک ، و بحرک، وسهلک، وجبلک، وَ حَیْث لایَلْتَئِمُ النَاسَ لِمَواضِعهَا ولا یجترءون علیها ، فَاِنّهُمْ سِلم لا تخاف بألفتة، و صُلْحٌ لاتخشي عَائِلَتَهُ

(نهج البلاغه اقتصادیات ۱۰۶ )

ترجمه:یعني تجارانو او صنعت کارانو په باره کي یی خلکو ته وصیت او نصیحت وکړو او نورو خلکو ته هم نصیحت وکړي تر څو تجارانو او صنعت کارانو سره نیک سلوک وکړي د تجارانو خوښه ده په یوجای(مصر)کي خپل تجارت کوي او که په مختلفو جایونو(ښارونو)کي خپل تجارت مخ ته بیایي او د خپلو خولو ایستلو په وجه خپله روزي ګټي ځکه چي دغه خلک(تجاران) د نفع مرکزونه دي او د زنده ګي د ضروریاتو د مهیا کولو وسیله دي چي دوي ډیر لري جایونو ته یعني وچي او لمدي په غره او سمه خلاصه هر جاي ته هغه ضروری شیان رسوي چي د نورو خلکو ورته رسیدل مشکل وي او هغه مقاماتو ته مالونه رسوي چي هلته خلکو ته د تللو همت نه وي او دغه (تجاران) امن خوښوونکي دي دوی صلح خوښوونکي خلک دی نوله دوي څخه د سرکشی او شور او عیشیت اندیښنه مه کوي.

## د اسلام اقتصادي نظام

په اسلام کي مساوي تقسیم نشته بلکه منصفانه تقسیم دي

قوله تعالی: أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ

دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ

ايا ستا درب رحمت دوی ویشي او مونږ د دوی په مینځ کې په دې دنیا کې د دوی   د ژوند اسباب په مینځ کې ویشلی دي او مونږ په دوی کې ځینې له یو بل څخه پورته کړي دي، د دي لپاره چې یو بل څخه کار واخلي او ستاسو د خدای رحمت له هغه څه څخه غوره دي چې دوی یې راټولوی

قوله تعالی: إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ خَبِيرًا بَصِيرًا(الاسراءاية ٣٠)

ترجمه: په تحقیق سره ستا رب چي د چا لپاره وغواړي نو رزق یي فراخ کړي.

او چا ته چي وغواړی نو رزق یي ورته تنګ کي او هغه له خپلو بنده ګانو خبر اولیدونکي دي

قوله تعالي: وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِينَ فُضِّلُوا بِرَادِّي رِزْقِهِمْ عَلَىٰ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيهِ سَوَاءٌ ۚ أَفَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ.

ترجمه: الله تعالی په تاسو کې ځینې د نورو په پرتله د رزق په برخه کې غوره کړي دي، نو هغه کسان چې

هغوی ته دا امتیاز ورکړل شوی دي، هغه کسان نه دي چې خپل رزق خپلو غلامانو ته واړوی، ترڅو دوی دواړه په دې رزق کې مساوی شریکان شی نو بیا ولی د الله تعالی له احسان څخه انکارکوي.

تفصیل:

د اسلامی نظام د اقتصاد او معیشت یو اهم اصول دادي چي هغه د دولت د مساوي تقسیم پر ځاي باندي د منصفانه تقسیم قائل وي او غواړي یي. نو د اسلام مزاج هیچ چیري داسی نه ده چي د ټولو انسانانو ذرائع پیداوار کي برابر په

برابر تقسیم شي د قران کریم مطالعه او تلاوت چي هر انسان کوي نو دا خبره به ورته صفا معلومه شي چي د الله تعالی په دي کائناتو کي هیڅ چیرته هم مساوي تقسیم نشي پیدا کولي ځکه چي مساوي تقسیم یو غیر فطری څیز دي .

ایا د ټولو انسانانو حافظي په یو شان دي ؟

ایا د ټولو انسانانو عمر په یو شان وي؟

آیا ټول انسانان په حسن او قابلیت(لیاقت) کي برابر دي؟

آیا ټول انسانان په یوشان حالاتو کي سترګي خلاصوي؟

آيا په دنيا کي  هم ټولو ته په يو شان حالات(موقع) په لاس ورځي؟

نو که چيري په ټولو ځيزونو کي مساوات نشي موندلي نو د معيشت يا پيداوار په ذرائعو يا د دولت په تقسيم کي مساوات يعني څه؟

داخو عملاً ممکنه نه ده ! نوځکه د اسلام مبارک دين داسي حکم هيڅ کله نه کوي چي د اقتصاد يا معيشت د وسائلو اود تمدن د ثمراتو تقسيم برابر په برابر وشي .

بلکه هغه دا وايي چي دا تقسيم دي منصفانه وي او د انصاف لپاره اسلام يو څو قاعدي مقررى کړي دي.

### د اسلامي اقتصاد يا معيشت منبع او سرچينه

الهي وحی ده چي اسلام هر وګړي ته د معيشت طريقه کار او حصول رزق کي يو څه شرائط وضع کړي دي چه که څوک غواړي تجارت، زراعت، صنعت او تخنيک ته توجه او وده ورکړي نو د الهي قانون لاندي په هر عمل تر سره کوو.

په پورته ذرائعو کي د حلال او حرام تميز او بيا اقدام کول د اسلام دين يو مهم اصل دي.

په دغه قاعده کي د ټولو نه مخکي اوله قاعده دا ده چي د دولت د حصول په ذرائعو کي کي اسلام دين موږ ته د تل په شان لارښونه کړيده که په معاشره کي

يو فرد يا يوه جامعه وي بايد د حلالواوحرامو توپير په نظر کي ولري تر څو په مستقبل کي د الله تعالی مخلوق مجرم ونه ګرزيګی .

د نړي هر وګړي ته الله تعالی دا حق ورکړي ده چي په ازادانه طريقي سره کوشش وکړي چي خپل معاش حاصل کړي اوکوم شي چي ګټي هغه دده ملکيت دي څرنګه چي غواړي و دی ګټي او هر څومره چي وګټي د دغه دولت او مال دي او دغه شخص يي خود مختارمالک دي

هيڅوک د نوموړي دا جائز ملکيت نه شي محدود کولاي او نه هيڅوک دا حق لري چه له هغه څخه دغه مال او ملکيت واخلي.

البته انسان بالخصوص مسلمان په حرامو ذرائعو سره د يوی داني وربشي په اندازه هم نشي حاصلولي له دغسي ګټي وټي څخه به هغه شخص په زور اوجبر سره منع کولا ی شي ځکه چي په حرامو ګټلو نقدو سره هغه

مالک نشي جوړيدلای بلکه د هغه د جرم د نوعيت په لحاظ به هغه ته د قيد اوبند سزا هم ورکولاي شي.

د کومو ذرائعو چي په اسلام مبارک دين کي منع شي هغه په لاندي ډول دي:

- خيانت
- رشوت
- غصب
- بيت المال کي غبن
- غلا
- په وزن کي کمي کول
- داسی کاروبار چي فحاشي تري خپريږي
- شراب څښل
- د شرابو پيرل او پيرودل
- سود کول
- قمار وهل
- او د بيوع تمام اونواع فاسده
- او داسی نور......

نو د اسلام له نظره دا ټيزونه په عبارت النص سره ممنوع او بند دي او مرتکب يي عندالله اوعندالناس مجرم بلل کيږي.

1= قوله تعالى يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ.

ژباړه: ای مؤمنانو له الله او له رسول سره خیانت مه کوئ او له خپلو امانتونو سره خیانت مه کوئ په داسی حال کي چي تاسو پو هيږئ.

2 = قوله تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ

ژباړه: ای هغو کسانو چي ایمان يي راوړي ده تاسو په خپل منځ کي د يوبل مالونه په ناحقه مه خوري او حاکمانو ته يي ددي لپاره مه ورکوی چي څه حصه په ظلم سره وخوري.

3= قوله تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ.

ای مؤمنانو خپل مالونه په خپلو مینځو کې مه خورئ مګر دا (مال) د رضایت سوداګری ده.

4= قوله تعالى: إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا

بیشکه چي الله تعالی تاسوته ددي حکم کوي چي امانتونه خپل حقدارو ته وسپاري .

5= قوله تعالى: وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

ژباړه: او چا چي خيانت وکړ د قيامت په ورځ به خيانت سره راځي

6= قوله تعالی:  يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ.

ژباړه: او الله تعالی سود (او سود) له منځه وړی او خیرات اوصدقي زياتوي او الله له کافرانو سره محبت نه کوی.

8= قال رَسُولُ اَللَّهِ - ﷺ لَعَنَ الله-آكِلَ اَلرِّبَا, وَمُوكِلَهُ, وَكَاتِبَهُ, وَشَاهِدَيْهِ, وَقَالَ: " هُمْ سَوَاءٌ.

ژباړه: رسول الله ﷺ وفرمایل: الله سود خور، د هغه مشتری، د هغه لیکوال او شاهدان لعنت کړي او ویې ویل: دوی یو شان دي.

7 = قوله تعالی: الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ.

ژباړه: هغه خلک چې سود خوری دوی به له قبرونو څخه نه راپورته کیږی مګر به داسی ډول به  راپورته کیږي لکه هغه څوک چې شیطان یې لمس کوی.

8= قوله تعالی: ویل للمطففین الذین اذا کالوهم یخصرون.

ترجمه: هلاکت لپاره د ناف تول کي کمي کونکو لره هغه کسان چي بل ته پیمانه کوي او کموالئ پکی ګوري

ومن الله توفيق

# تمت فصل اول